
بسم الله الرحمن الرحیم



# د کرونا کرغېړنې او د هغې لارې چارې

(پېژندنه، لارښوونې او وقايوي درملنه)

ژباړه [illegible] موسسه

کابل [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمون خپرندویه ټولنه
SAMOON PUBLISHER
بغلان ادبي بهیر


**کتاب پېژندنه:**

د کتاب نوم: **د کرونا کرغېړنې او د هغې لارې چارې**

ژباړه او راټولوونه: **عبدالوهاب مومند**

اړیکه: wahabmomand90@gmail .com (۰۷۴۹۰۴۳۸۳۴)

چاپ زیار: **سمون خپرندویه ټولنه**

خپرندوی: **بغلان ادبي بهیر**

کمپوز: **خپله ژباړن**

چاپ شمېر: **۵۰۰ ټوکه**

چاپ کال: **۱۳۹۹ل / ۲۰۲۰ز**

کچه: **رقعي**

پته: مینه یار مارکېټ، مبارک سنټر ته مخامخ، میرویس میدان کوټه سنګي

اړیکه: mustafa.samoon24@gmail.com/۰۷۴۹۴۲۲۰۰۵


ددې کتاب د چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له ژباړن سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ او غوښتنه!

هغو کسانو ته چې د کرونا ویروس په عامه پوهاوي کې برخه اخلي او د دې کرغېړنې ناروغۍ پر وړاندې مبارزه کوي خو هغه کسان چې اصلاً خیال پرې نه راوړي، نو غوښتنه ترې کوم چې د کرونا ویروس پر وړاندې جدي تدابیر ونیسي!

**ع . و . مومند**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک


سریزه ........................................................... ح

کرونا ویروسونه........................................................ 2

ـ کرونا څه ډول ویروس ده؟.................................................. 4

نوی کرونا ویروس (کووید ۱۹): ................................................ 5

ـ د ویروس منشاء .......................................................... 7

ـ د کرونا ویروس د لېږد لارې چارې: ........................................... 7

د کرونا ویروس اصلې نښې:..................................................... 8

د وقایې لارښوونې.......................................................... 10

څنګه کولی شو خپل مخ ونه موښو چې په کرونا اخته نه شو؟......................... 18

ـ خو، ولې موږ پر مخ لاسونه وهو او څنګه له دې عادت ډډه کولی شو؟ .................. 19

ځارملنه ................................................................. 21

ـ د ځارملنې څېزونه: ....................................................... 22

ـ عبادت مه هېروئ! ......................................................... 23

کرونا ویروس ژوندی نه ده په همدې دلیل د هغه مړ کول ډېر ستونزمند کار دی ........... 25

ـ د شیمایي پوهې او د ژوند پېژندنې په منځ کې؛ ...................................... 26

ـ د وسلو په څېړنو کې؛ ...................................................... 29

نړۍ وروسته له کرونا ویروس څخه؛ ............................................ 33

ـ پټه ځارنه: ............................................................. 34

ـ اظطراري مخکښونه: ........................................................ 35

ـ صابون ساتونکی (د صابون جامد ځواک): ......................................... 37

ـ مونږ یو نړۍ وال پلان ته اړتیا لرو: .............................................. 40

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینډوز........................................................ 44

وبا (طاعون) ناروغی ........................................................ 46

د لاس ورکړې او د جومات تللو حکم ........................................................ 49

د کرونا وړې ذرې او الهي عذاب........................................................52

شنبه ـ ۲۰۲۰ ـ د مارچ ۱۴مه ........................................................ 54

ژوند جدي وګڼئ! ........................................................ 56

ناڅاپه بدلون ........................................................ 58

تور لښکر........................................................ 60

سپارښتنې ........................................................ 61

ګواښونه........................................................ 63

اخځلیکونه........................................................ 65

یاداښت ........................................................ 66

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د لوی او ښښونکي الله تعالی په سپېڅلي ذات نامه او له هر څه وړاندې د مدیني جانان سردار دو جهان جناب حضرت محمد(ص) ته درود وړاندې کوم.
کله چې مې د کتاب خاکه جوړوله نو د کتاب نوم ( د کرونا ویروس پر وړاندې مبارزه) مې وټاکله او دا کتاب یوازې جیبي کتاب یانې د لارښوونو لپاره ځانګړی شوی و، خو اوس وتوانېدم چې زیات شمېر مقالې له دري ژبې څخه پښتو ته را وژباړم او د څېړنې په ترخ کې له ګڼو سرچینو نه اړین مالومات راغونډ کړم او په کمه موده کې د کتاب بڼه مې ورته ورکړه. اوس زه په ډاګه ویلی شم چې په نوموړي کتاب کې تر خپل حده پورې زیار کښل شوی او د کرونا ویروس او لارښوونو په اړوند داسې څېزونه راټول شوي دي چې تر اوسه پورې رانه پاتې شوي نه دي، که پاتې هم وي نو هغه لارښوونه به ما زما له څېړنې وروسته ځانګړې شوې وي. د کرونا ویروس پیدایښت او څرګونه حتی تر لارښوونو پورې یې اوږده مخینه لري چې څېړونکو ګڼ شمېر مقالې پرې لیکلي دي خو تر اوسه پورې داسې درمل نه دی پنځول شوی چې د نوموړي ویروس مخنیوی وکړي. د کرونا ویروس شباهت کټ مټ د طاعون ناروغۍ غوندې برېښي او د لېږد عامل یې هم یو شان بلل کیږي. حضرت عمر بن عاص (رض) طاعون ناروغۍ یې اور وبلله او د اسلام خوږ پیغمبر د وبا ناروغۍ د مخنیوي په پار ډېرې لارښوونې پرېښې دي همدارنګه د درملنې او د وقایې لپاره یې دا دعا توصیه کړې ده، (الهم انی اعوذبک من البرص والجنون والجذام و من سیی الاسقام) د نوموړي دعا نه پرته نورې سورېې، آیاتونه او دعایې شتون لري چې باید وویل شي. کرونا ویروس لوی آفت د الله تعالی له لوري په بې عملو مسلمانانو او کافرانو باندې نازل شوی دی چې حکمت یې ددوی متوجې کول په خپلو ناوړو کارونو باندې دي. دا چې ځینې کسان سل قسمه خبرې کوي، د هغوی لوی عیب دا دی چې له اسلام او په علم باندې باور نه لري ځکه د خدای ج دومره لوی آفت چې مرګ سره لاس او ګرېوان کول دي او هغه د جهاني صیب خبره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خدایه څه آفت نازل شو پر ښارونو د ژوندیو**

**د ناورین ابۍ شوه لنګه ریښې کاږي د ښادیو**

عبدالوهاب مومند

۱۳۹۹د حمل ۱۹مه

بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کرونا ویروسونه

**نوم پېژندنه:**

د کرونا ویروس کلمه د لاتیني ژبې له (Corona) او دیونانې کلمې له (κορώνη ) څخه اخیستل شوی چې مانا یې خول (تاج) یا تربل (هاله) ده. دا کلمه د ظاهري ځانګړتیاوو له مخې په ویریون (د ویروس عفوني شکل) چې د الکترونکي میکروسکوپ په وسیله باندې د لیدلو وړ ده. بناً د څرګو او اخځ اخیستو څخه دا جوتېږي چې یاد ویروس په لویه کچه د پیاز په بڼه جوړښت لري او د هغه انځور یادوونه را څرګندوي چې د پخواني شاهي خولۍ یا د سپوږمیز بڼې په څېر اخیستل شوی، نو په دې بنا کرونا ویروس ته (تاجداره ویروس) هم وايي.

**.د کرونا ویروس پیدایښت او څرګونه:**

د ویروسونو لویه کورنۍ په ټولیزه توګه ویریده کرونا بلل کېږي، چې د یخ وهلي (والګي) معمولي څرګو نه تر شدیدې ناروغۍ پورې چې د سارس، مرس او کووید ۱۹ کې ګډې برخې دي.

کرونا ویروسونه په ۱۹۶۵ کال کې څرګونه یې کشف شول او څېړنې په یاد ویروس باندې په دوامداره توګه تر ۱۹۸۰ منځنۍ لسیزې پورې هڅې دوام درلود. دا ویروس په طبعي ډول په ژویو (پستاندارانو) او مرغانو کې معمولاً پیدا کېږي، چې تر دې دمه اووه ډوله کرونا ویروس انسانانو ته لېږد او لاسته راغلي دي. د کرونا نوې ناروغۍ چې د کووید ۱۹ په نامه یادېږي، د ۲۰۱۹ په دسامبر میاشت کې د ووهان ښار او د چین په هېواد کې په ټولو د مرګ اغېزه درلوده.

اټکل کېږي چې نژدې ترین مشترکه نیايي (MRCA) ټول کرونا ویروسونه د ۸۰۰۰ کاله مخکې نه شتونه درولود، مګر ځینې نورې سرچینې د ۵۵ میلیون کاله یا ډېره یادونه کوي، چې دا بیا د دوامدارې مودې کرغېړنې له ځان سره درلودلی شي.

کرونا ویروسونه په ټولیزه توګه د کرونا ویریدې د محور لاندې دي، چې د هغوی جوړښت په معمولي توګه د آر ـ ان ـ ای، یانې یو ژنوم لرونکې وي. هغه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې په نورو ناروغیو باندې اخته وي او په ځانګړې توګه هغه ماشومان چې د زړه تکلیف ولري نو زیاتره دغه کسان د کرونا ویروس په ناروغۍ باندې ژر اخته کېدلی شي. معمولاً یخ وهلی (والګی) چې زیاتره د کرونا ویروس عامل بلل کېږي او کرونا ویروسونه چې وروسته له راینو ویروسو څخه؛ د اخته کېدو لوی عامل یې یخ وهلی دی چې اکثراً په ژمي او پسرلي کې دغه والګی رابرسېره کېږي، مګر کرونا ویروسونه زیاتره په ژیو(حیواناتو) کې لیدل کېږي چې تر اوسه اووه ډوله کرونا ویروس د بدن دې ساه اخستنې آلې یې د اغېزمنېدو لاندې راوستې دي. کومه ښکارندوینې چې د کرونا ویروس یا د کرونا ناروغۍ را په ډاګه کوي لړ ستونزمنده برېښي او همدارنګه د نوموړي ویروس جوړښت له دوه ځانګو څخه تشکلېږي:

الف) ددغه ویروس هسته؛ له ژنټکي مواد او بیروني پروټئني لایو څخه تشکلېږي او وروسته د سلولونو کوربه، چې د ویروس ذرې بې له پوښښه او د هغه ژنوم سستوپلاسم سلول ته دننه کوي.

ب) د کرونا ویروس کورنۍ په طبعي ډول له ژیو څخه نورو ته لېږدول شوې ده او همدارنګه دغه ویروس د لېږد له لارې آسانه برېښي، چې وروسته ډېره سخته ناروغي د وخت په اوږدو کې درلودلی شي.

ـ لاندې انځور د کرونا ویروس جوړښت دی:




منبع: دري سایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**.کرونا څه ډول ویروس ده ؟**

کرونا د ویروسونو لویه کورنۍ ده چې څلور ډوله ( آلفا کرونا ویروس، بتا کرونا ویروس، دلتا کرونا ویروس، گاما کرونا ویروسونه) دي چې ۲۲ ډوله يې بيا د همدغو څلور ډولونو ساحې خړوبه کوي او بلآخره ۴۰ رقم ځايونه نېسي، له دې ډلې نه تر اوسه اووه ډوله لېږد او انسانانو کې کشف شوي دي چې د يخ وهلي (زکام) لويه کورنۍ په انسانانو کې د نارغېدلو سبب کېږي. کله د کرونا ويروسونه د ساه اخيستنې آلې ته بريد کوي او کله هم د خپل نښې د انسانانو په معدې او گُردو کې ځان ښکاره کوي. معمولآ د کرونا ويروس نښې په ربيو او يخ وهلو کې په معمول ډول وي او د يخ وهلي (زکام) هغه قسم چې د پراخېدو په حالت کې وي د پنومونيا په نوم را ظاهرېږي، او په زياترو کسانو کې دغه يخ وهلې ناروغۍ په ملايم ډول ملگرې وي. په دغو ځانگو کې څلور ډوله کشف شوې دي:

- HCoV- 229E
- HCoV- OCA43
- HCoV- NL63
- HCoV- HKU1

دغه څلور ډول کرونا ويروس د انسانانو په ډله کې يوه بې نظمه ناروغي راپنځوي او په ماشومانو او غټانو کې د ساه اخيستنې سيستم له عفونت (ناپاکۍ) سره مخامخوي. اما د ياد ويروس نورې ډلې هم شته چې شديدې نښې ورسره ملگرې وي. لکه: سارس، مرس او کويد۱۹.

**۱.سارس:**
دغه ويروس باندې تصور کېږي چې له ژيو څخه د چين وگړي متأثره شوي او په ۲۰۰۲ اپيډمي نړۍ وال سارس ناروغۍ وتوانېده چې ۸۰۰ وگړي د مرگ خواته بوځي، د سارس علمي نوم SARS- COV ددې سبب شو چې حاد سندرم يا شديده ساه اخيستنه د اخته شوي کسانو په منځ کې رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲.مرس:**

ددغو ویروسونو څخه نوی ویروس په کال ۲۰۱۲ د سپتامبر په میاشت؛ په سعودي عربستان کې په یو ۶۰ کلن سړي کې پیدا شو چې په پای کې دغه پېښه مرګ خواته وغځېده. دغه سړي څو ورځې مخکې دبی خواته سفر کړی وو او دویمه قضیه په قطر کې ثبت شوه چې بلآخره ۴۹ کلن سړی له دغې ناروغۍ څخه ومړ. د لومړي ځل لپاره نوموړی ویروس په Health Protection Agency په Colindale یانې لندن کې کشف او ومنل شوه. د کرونا ویروس مشهوربدل د ساه اخیستنې نابود سندرم په خاوره میانه کې (Coronavirus Middle East Respiratory Syndrome) په نامه وپېژندل شو چې د MERS- COV په لنډو کې ویلل کېږي او همدارنګه دغه ویروس په خاوره میانه کې د ۸۵۸ وګړو د مرګ سبب شو.

**۳.نوی کرونا ویروس (کووید ۱۹):**

د دسامبر په ۲۰۱۹ع کال کې د لومړي ځل لپاره د ووهان ښار د چین په استان هوبئې کې وروسته له هغه چې وګړي بې له ځانګړې علت څخه د سینې په ناروغۍ باندې اخته شول چې واکسین او درملنه یې د شته ناروغۍ لپاره شتون نه درلود. د کرونا ویروس نوی ډول چې په ټولو انسانانو کې وپېژندل شو، د لومړي اخته شوي وګړو په منځ کې ځانګړې شوه چې دوه یا درې کسانو د ښار په یوه عمده پلورنځي کې کار کاوه چې په هغه کې د بحرونو خواړه (کبان) یا هواناان او نور ژوندي موجودات پلورل کېدل چې یاد کسانو مستقیمه اړیکه د بحرونو موجوداتو سره درلوده چې د نوموړي ویروس د لېږد عامل بلل کېږي. د میاشت په ۳۰مه دغه نوی کرونا ویروس دې ۲۷۰۹ کسانو ډېر ځانونه یې ورڅخه اخیستي او همدارنګه په لوړه کچه ۷۳،۳۳۲ کسانه نور په دغه ویروس په ۸۰ هېوادونو کې تأیید شوي دي، چې د هغه له جملو څخه تایلند، جنوبي کره، ژاپن، تایوان، استرالیا، سنګاپور، نپال، ویتنام، اندونزیا، آلمان، روسیه، فیجي، فرانسه، ایران او امریکا اخته شوي ښکاري. د تېرو قربانیانو شمېر چې د کرونا ویروس باندې مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو نو د روغتيا نړۍ وال سازمان ۱۰۰۰ کسانه ددغه ويروس دې مبارزې لپاره رسمي انتخاب کړي دي چې د کرونا ويروس د لوړې کچې باندې چټک کارونه ترسره کړي. کوويد ۱۹ (COVID- 19) چې کرونا ويروس بلل کېږي، دغه ناروغۍ په کال ۲۰۱۹ع کې رابرسېره شوه او مخکې په ټولو انسانانو کې نه ليدل کېده او لومړۍ لاسته راوړنې دا ښيي چې سل په سلو کې ددې ويروس تکثر او مرګ و مير د همغه د ۲ يا ۳ کسان اخته کېدل دي چې وروسته نورو ته د هوا او د څېزونه په مرسته لېږدول شوي دي.

ـ ددغه ناروغۍ نښې لکه: تبه، وچ ټوخی او کله هم د ساه اخيستنې ستونزه؛ لکه: د ساه تنګوالی، د ساه کمښت، ستونی درد او د پوزې اوبه راتلل دي. ددغه ويروس لومړي اخته شوي کسان په ووهان ښار چې د بهرونو خوراکي څانګو کې يې کار کاوه يا هغلته يې حضور درلود، مګر د نوموړي ويروس په ناروغۍ کې هغه کسان چې د بهرونو له کبانو سره اړيکه نه درلوده نو د روغتيا نړۍ وال سازمان د ويروس لېږد انسان نه انسان ته د نظر لاندې ونېوه، چې بايد کار ورته شوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**.د ویروس منشاء:**

د کرونا ویروس څرګونه پخوا په ژیو (حیواناتو) کې ولیدل شو. سارس ویروس هم د لومړي ځل لپاره په حیواناتو کې پیل شو چې وروسته په پشکو کې هم د لېږد څرګونه یې ښکاره شول او له هغه وروسته انسانانو ته ورسېده. د کال ۲۰۱۴ نه تر اوسه پورې مرس ویروس په خاورې میانه کې د ۸۵۸ وګړو د مرګ عامل شو او د ۲۴۹۴ ناروغان د مثبتو پېښو په نامه ثبت شوي دي او همدارنګه دغه ویروس له اوښ څخه انسان ته ورسېده. د هغه آخري ډول د څېړنو په مطابق مېږی خوړونکی (مرچه خوار) بلل کېږي البته شونی ده چې نور موجودات هم د یاد ویروس په لېږد کې ونډه ولري؟

**.د کرونا ویروس د لېږد لارې چارې:**

د کرونا ویروس د لېږد لارې چارې بېلابېلې دي، په ځینو مواردو کې د ناروغۍ لېږد یو انسان نه بل انسان ته د آنفلونزا له لارې یانې ټوخي او پرنجي نه ژر لېږدول کېږي، په دې حال سره د ناروغۍ احتمالي لېږد په داسې وخت کې کېدلی شي چې کاواکه فضا خلاصه یانې رش هغومره په کې نه وي نو په دې ترخ کې د لېږد محدودیت وضع کېږي خو که د دوامدارې مودې لپاره چاپېریال قید یانې رش ډېر وي او هغه کس چې له یو ناروغ سره نژدې اوسېږي یا په روغتون کې له ناروغانو سره اړیکه لري نو په داسې حال کې د ویروس لېږد یو انسان نه بل انسان ته شونی ده. تر اوسه تاکل شوې نه ده چې نوموړې ناروغۍ له ژیو (حیواناتو) نه انسان ته لېږل شوی دی یا هم دې ناپاکۍ کچې څخه دا ویروس تکثر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کرونا ویروس اصلي نښې:**

په توجو سره د کرونا ویروس علایم کولی شي چې د عادي یخ وهلي نښو څخه رابرسېره شي، لکه: تبه، ټوخی، د ساه تنګوالی او د ساه اخیستنې کمښت دی، همدارنګه شونې ده چې ناروغ ظاهراً د څو ورځو لپاره بې څه وټوخېږي. کرونا ویروس او مرس د سارس په خلاف یوازې د ساه اخیستنې سیستم نه بلکې د بدن ټول سیستم لکه: ځیګر او ګردې هم د خپل لاندې راچاپېروي. د کمښت په اړوند د هاضمې ستونزې هم له ځان سره درلودلی شي چې اسهال، د ساه اخیستنې کمښت، په وجود کې د مایعو کموډې، د وینې کموډې او ګردو ته د اوبه نه رسېدل هم درلودلی شي، چې دا ټکي یو ناروغ هموډیالیز ته اړ کوي.

د نوي کرونا ویروس چې دې COVID- 19 باندې یادېږي، معمولاً د څو ورځو وروسته له اخته کېدو څخه د وګړي ویروس را وګټېږي. اما په ځینو کسانو کې شونې ده چې ډېر کم علایم له څو مودې وروسته را ظاهر کړي. په اساس دې څېړنو او مطالعو ددې علایم داسې راڅرګندېږي چې کولی شي، شامل دې تبې چې (۴۳/۸ سلنه ثبت او ۸۸/۷ سلنه وګړي بستر شي) وچ ټوخی چې کولی شي ( ۶۷/۸ سلنه هم ثبت او هم بستر کړي) د ساه اخیستنې کمښت، د ستړیا احساس او د عضلاتو درد (۱۱ تر ۱۴٪ سلنه نښې) او اسهال (د ۳،۸ سلنه پورې علایم) درلودلی شي، چې د ټولو نښو په درلودلو سره بیا د کرونا ویروس په نامه ثبت او یادېږي. د معمول په ډول incubation period یا د پټې دورې علایم تر څلورو ورځو پورې اوسېږي. اصطلاحآ ground- glass opacity په سي - تي - اسکن یا په کوګل ( د سینې قفس) کې ۵۶/۴ سلنه نښې لیدل کېږي. ۱۷/۹ پورې له ناروغ نه هغه ناروغ ته چې شدیدې نښې نه لري او ۲/۹ پورې له ناروغ نه هغه ناروغ ته چې شدیدې نښې په کې لیدل کېږي او هېڅ ډول ستونزې په راډیولوژي یا سي - تي اسکن کې نه ښيي. لنفوسیتوپېني یا د کموالي شمېر په لنفوسټ یا د ویني په روانښت کې ۸۳/۲ پورې د ثبت شوي کسانو په لېسټ کې لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې کسان هېڅ نښې نه لري او ځینې پټې (خفیف) نښې لرونکې وي، اما په نورو کسانو کې COVID- 19 کولی شي چې جدي ستونزې لکه: د کافي اکسیژن نشتون او حتی د مرګ نښې هم درلودلی شي، دغه نښې زیاتره په هغو کسانو کې لیدل کېږي چې نورې ستونزې لرونکې وي. مثلاً: د قلب ناروغي، د سن لوړېدل، امېدواره میندې، له ۲ کلنو ښکته ماشومان، د شکر ناروغان، د سرطان ناروغان او همدارنګه نور...

په لاندې انځور کې د کرونا ویروس نوي څرګونه دي:



منبع: ریاست تولید و نشرات

**د (COVID-19) ناروغۍ د مخنیوي یا درملنې لپاره درمل شته ؟**

ځینې خلکو یې د علایمو اراملو لپاره دودیز او انتي بیوتیک درمل کاروي او ځینو کلینیکونو د آزموینې لپاره په ځینې ناروغانو د درملو آزموینه پیل کړې خو تر اوسه یې لاسته راوړنې نه دي خپرې شوي. د مخنیوي لپاره یې کوم ځانګړی واکسین هم نشته. کوم کسان چې سخت حالت ته ولاړ شي باید روغتون کې بستر کړل شي. زیات ناروغان په روغتون کې ښېرته روغتیا مومي. د واکسین او د درملنې د درملو لپاره یې کلینیکي هڅې روانې دي. ځینې درمل چې لسګونه کاله وړاندې جوړ شوي لکه د جاپان د زکام لپاره درمل، کلوروکین او هایډروکسي کلوروکین، د ایچ ای وي د درملو ترکیب، د وینې د فشار درمل او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وقايې لارښوونې

ـ لکه څرنګه چې د پورتنيو مالوماتو له مخې څرګنده شوه، چې په کرونا ويروس اخته شوي کس له لورې نورو ته دا ويروس ژر لېږدول کېږي، چې بايد ناروغ د ځارملنې لاندې ونيول شي تر څو نور ترې اغېزمند نه شي، همدارنګه کرونا ويروس يو وژونکی ويروس بلل کېږي او لېږد لارې يې آسانه برېښي، نو ددې لپاره چې ځان او د نورو حيات په خطر وانه چوو. نو د وقايې لپاره لاندې څو لارښوونې په ګوته شوي چې بايد پام ورته وشي او همدا لارښوونې له کرونا څخه د ژغورلو لامل کېږي او که دا لارښوونې تطبيق نه کړو نو ژوند له خطر سره مخامخېږي.

### ۱.له ماسک څخه استفاده وکړئ!

کله چې په يوه چاپېريال کې تګ راتګ کوئ او يا د يوه ناروغ شخص مراقبت کوئ نو غوره ده دا ده چې ماسک وکاروئ. خپل ځان ډاډه کړئ چې ماسک مو پوزه او خوله په بشپړه توګه پوښلې ده، کله مو چې ماسک واچوه نو له تماس څخه يې ډډه وکړئ. د يو وار مصرف ماسک له کارولو څخه وروسته هغه له ځان څخه لرې کړئ او له لرې کولو څخه وروسته يې خپل لاسونه په صابون ومينځئ او همدارنګه ماسک له ناپاکې هوا څخه د ويروس مخنوی کوي.

### ۲.د لاسونو پاکول يا مينځل!

له کور څخه د باندې تللو او په عامه ځايونو کې له تګ راتګ کولو څخه وروسته، له پرنجي، ټوخېدلو او د پوزې له پاکولو څخه وروسته، له ډوډۍ خوړلو څخه مخکې او وروسته او تشناب ته له تللو څخه وروسته خپل لاسونه لږ تر لږه د شلو ثانيو (20sec) لپاره په اوبو او صابون سره ومينځئ او يا د لاسونو له پاکوونکي ژل (Hand Sanitizer) څخه ګټه پورته کړئ. د صابون او د لاسونو ژل پر لاسونو باندې ناست ويروس مړ کوي او همدارنګه کولۍ شئ چې د کلا څخه د بهرېدو پر مهال په لاسونو باندې ژل ووهئ، چې په دې سره د ويروس مخنوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي او د بېرته راستنېدو پر مهال لومړی لاسونه په صابون او بیا یې د لاسونو په ژل غوړ کړئ او د ورځني پرله پسې مینځل مه هېروئ.

**۳.له ناروغو کسانو سره د نږدې اړیکې پر مهال ډډه وکړئ!**

که چېرته په یوه ټولنه یا ځای کې د COVID- 19 ناروغي خپره شوې وي نو په دې صورت کې د ناروغو اشخاصو له نږدې اړیکې څخه ځانونه وساتئ او د خپل ځان او خلکو ترمنځ فاصله ونیسئ. دغه ټکي په ځانګړې توګه هغو کسانو ته ډېر توصیه کېږي چې به نوموړې ناروغۍ باندې د اخته کېدو لپاره لوړ خطر ولري. که د اخته شوي کسانو څخه لرېوالی یا فاصله ونه نیسو نو د اخته کېدو ګواښنو سره مخامخېږو.

**۴.له لاس ورکولو او پر مخ ښکلولو څخه ډډه وکړئ!**

لکه څرنګه چې مالومه ده د کرونا ویروس د اړیکې او د نژدېوالي له امله ژر لېږدول کېږي نو باید د لاس ورکولو او د مخ ښکولو څخه ډډه وکړو ځکه دا کړنې د ویروس د لېږد سبب ګرځي، نو باید لږ تر لږه له نورو کسانو څخه د یوه متر په اندازه واټن ونیسو، او دا چې شرعي حکم یې څنګه ده په دې به وروسته وغږېږو.

**۵.له څیزونو سره اړیکې:**

هغه څیزونه چې معمولآ له هغو سره اړیکه ترسره کېږي باید هره ورځ پاکې (Clean) او میکروبونه یې له منځه (Disinfect) یوړلی شي. په دې څیزونو کې مېزونه، دستګیرونه، د چراغونو د بلولو او مړه کولو سوچونه، کمپیوټر، موس او کیبورد، ټلیفونونه، کود، د لاس مینځلو ځایونه (دستشوی)، لاسي ساعت، او داسې نور په کې شامل دي چې باید پام ورته وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶.شریک څیزونه مه کاروئ!**

هغه څیزونه چې ځانګړې دي او یوازې یو کس ترې ګټه اخیستلی شي، لکه: د غاښونو بورس، روی پاک، ځان پاک، ګیلاس، د خواړو لوښي، کالی، او نور څیزونه دي چې له نورو سره باید شریک نه شي، چې له دې کړنې سره د ویروس مخنوی کېږي.

**۷.له سبزیجاتو او مېوه جاتو ډېره ګټه پورته کړئ!**

سبزیجات او مېوه جات زموږ بدن د ویروس پر وړاندې قوي کوي او زموږ وجود دې ته چمتو چې تر یو حده پورې ویروس سره مبارزه وکړي، نو باید له سبزیجاتو او مېوه جاتو څخه ډېره ګټه پورته کړو او خصوصآ هغه مېوه جات او سبزیجات څخه ډېر استفاده باید شي چې ویټامین سي لرونکې وي لکه: لیمو، نارنج، کینو، مالټه، ګېوې،سابه، قرمه یې مرچ او نورو څخه ډېره ګټه پورته شي او هېره دې نه وي چې د خوړولو پر مهال باید په پاکو اوبو سره ښو ځله ومینځل شي.

**۸.غړغړه باید هېره نه کړئ!**

کله چې له بهر نه کور ته را دننه کېږئ، که ستوني کې مو بخار یا سوزش وي او که نه وي نو باید لږ مالګه په ښو غړپو اوبه کې واچول شي او وروسته پرې مکررآ غړغړه وشي، ځکه چې د کرونا ویروس لومړی په ستوني باندې خپلې اغېزې ښکاره کوي او وروسته سږو ته ور دننه کېږي او بلآخره د خپل سوزش ته دوام ورکوي په هر صورت د شپې مخکې له خوبه هم او سهار وروسته له خوبه هم باید چې غړغړه هېره نه کړئ.

**۹.د پوزې مسحَ وکړئ!**

د پوزې دننه یانې د خاورو تللو لپاره وېښته دي چې مخنوی یې کوي او خاوره نه پرېږدي چې دننه لاړه شي نو شونی چې د ښو شېبو لپاره د ویروس هم مخنوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي نو ددې لپاره چې ویروس نور تکثر وکړي او لاره ونه کړي نو باید ژر تر ژره د پوزې له سوزش سره د پوزې دننه په اوبو باندې مسح یا پاکه ومینځو.

**۱۰.له ګرمو مايعاتو نه بايد ګټه پورته کړئ!**

له ګرمو مایعو نه باید ډېره ګټه پورته شي، ویل کېږي چې کرونا ویروس له تودوخو سره اساسیت لري او ۳۰ نه لوړو درجو کې له منځه ځي او تکثر یې هغومره نه وي نو ګرم مایعې ستونی پاکوي او ویروس نه پرېږدي چې سږو خوا لاره وکړي. د ویروس دې وقایې لپاره ګرم مایعات توصیه کېږي.

**۱۱. د پرنجي پر مهال خوله او سپږمو ته مو يو څه ونيسئ!**

د پرنجې او ټوخې پر مهال خوله او سپږمو ته مو دستمال ونیسئ او وروسته له هغه دستمال لرې یا کثافت داني کې وغورځوئ، ځکه لومړی ویروس د پوزې او په ستوني کې موقعیت اختیاروي او د پرنجي او ټوخې پر مهال موجود ویروس د هوا په فشار سره بهر را دروي او وروسته په شته څیز باندې نښلي که څیز لرې وانه وچوو نو ویروس له څیزه بېرته بدن ته لاره پیدا کوي او که لاس مو د پرنجي پر مهال نیولی وي نو باید د لاس مینځو اراده ولرو، که د ټوخې او د پرنجي پر مهال دستمال شتون ونه لري نو د اوږې نه ښکته لاس باندې سپږمې یا خوله ولګوو بیا د پرنجي یا ټوخې ستونزه رفع کړو خو وروسته کالی یا واسکټ لمر ته آوار کړو تر څو شته ویروس له تودوخې مړ شي.

**۱۲. غوښه او هګۍ له خوړلو مخکې سمه پخوئ!**

غوښه او هګۍ د پخولو په وخت کې باید سمه سره او پخه شي. ویل کېږي چې کرونا ویروس له ژیو (حیواناتو) څخه انسان ته لېږدول شوی نو د ژیو او خصوصآ د چرګ غوښه او هګۍ باید په سمه توګه پخه شي او د نیم خامه پخېدو څخه باید ډډه وکړئ او هېره دې نه وي چې د کبانو خوړلو نه مخکې غوښه یې باید سمه سره او پخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳.له ګڼه ګوڼو څخه ډډه وکړئ!

په هغو ځایونو کې چې ګڼه ګوڼه وي یانې رش او ډېرو بار په کې ډېر وي نو باید له هغو ځایونو څخه ډډه وکړو ځکه شونی ده چې په هغه ګڼه ګوڼه کې ډېر په کرونا اخته شوي کسان وي نو د ویروس تکثر په داسې حال کې ژر یو انسان بل انسان ته لېږدول کېږي او همدارنګه په هغو ځایونو کې مېلستیا وي یا فضا قیده وي او د انسان واټن یو بل ته ډېر نژدې وي نو په داسې حال کې هم د ویروس لېږد شونی ده، توصیه کېږي ځانونه له ګڼه ګوڼو څخه او له بې ځایه بازار تللو او ملېمستیا څخه ډډه وکړئ.

### ۱۴. له ژیو (حیواناتو) څخه واټن واخلئ!

له ژیو یا حیواناتو څخه باید لرې ځان وساتو ځکه کرونا له ژیو څخه انسان ته لېږدول شوی او له ژیو څخه د کرونا ویروس ژر د لېږد عامل کېږي نو که احیاناً بیا غواړو چې ژیو ته نژدې ورشو باید په لاسونو دستکشې او په خوله او سپېړمو مو ماسک وي نو په داسې حال کې د ویروس پراختیا هغومره نه وي، بناً ژیو ته د نژدېوالي په حالت کې دستکشې او ماسک مو هېر نه شي.

### ۱۵.له یخو اوبو او سړو خواړو څخه لږ ډډه وکړئ!

یخې اوبه ددې عامل کېږي چې نور هم د کرونا ویروس پراخ شي او بلآخره سږو ته لاره پیدا کړي ځکه چې مونږ شاهدانو کله چې مو ستونی وخوږېږي نو ډاکټر لومړی له خوږو او وروسته له یخو اوبو څخه مو پرهېزوي ځکه دا دواړه څیزونه د ویروس دې پراخېدو عامل کېږي، بناً یخې اوبه او یخ څیزو څخه باید ډډه وکړئ، همدارنګه ساړه خواړه هم ددې سبب کېږي چې ویروس دننه وجود ته لاره پیدا کړي ددې لپاره د یو وخت خواړه باید بل وخت ته ونه خوړل شي ځکه شونې ده چې د وخت په تېرېدو سره په خواړو باندې ویروس کېناستلی وي او په خوړلو سره یې ویروس وجود لاره پیدا کړي، نو په دې بنا باید له یخ څیزونو او سړو خواړو څخه ډډه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶.د ژاولې ژدول څه ګډه لري؟**

دمخه مو څو وارې یادونه وکړه چې باید له ګرمو اوبو او مایعو څخه ګډه واخلئ څکه لومړی ویروس په ستوني باندې خپل برید پیلوي او وروسته سږو ته لاره کوي، نو که ګرمو اوبو او مایعو ته لاس رسی نه لرئ، نو له ژاولو څخه ګډه پورته کړئ څکه ژاولې ژدول ستاسو ستونی تل نم ناکه ساتي او د ژدولو په حالت کې ستونی مو د وجود په اوبو یانې په لاړو باندې پرېمنځي.

**۱۷. د اخته شویو کسانو نه نور څوک مشکوک ښکاري؟**

د اخته شویو کسانو نه سېوا هغه کسانو نه هم باید واټن واخلو چې په لاندې ناروغۍ باندې اخته وي. لکه: د زړو خلکو نه، د زړه ساه لنډۍ، د شکر ناروغان، د سرطان ناروغان او امېدوارو میندو نه هم باید واټن وساتو، څکه چې په یاد شوي ناروغانو باندې کرونا ژر اغېزه ښندي، نو د ویروس د پراختیا لپاره واټن اړین برېښي.

**۱۸.د کومو څیزونو څخه وروسته د بیا لاس مینځلو اړتیا کېږي؟**

کله چې مونږ لوبه کوو نو خامخا د لوبې څیزونه لاس سره اړیکه نیسي او ویروس سره لاره کوي او همدارنګه د وړو ماشومانو څخه وروسته او ژیو له نژدېوالي څخه وروسته او د نور څیزونو له اړیکو څخه وروسته باید بیا ځلې لاس ومینځو.

**۱۹.ولې کالي یا جامې د لمر تودوخو ته آوار شي؟**

له بهر څخه د راستنېدو پر مهال خامخا جامو یا کالیو کې مو ویروس ناست وي او د لارې پیدا کېږو چاره مېندي، نو مخکې له هغې چې ویروس خپور شي نو جامې مو باید د لمر تودوخو ته آوار کړئ تر څو چې ویروس د تودوخو له امله مړ شي، څکه نوموړی ویروس که په یو څیز باندې کېني نو تر درې ورځو پورې هلته پاتې کېدای شي چې تر څو کوربه ته ولېږدول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰.سګرټ مه څکئ!**

د مکسیکو روغتیا وزارت ویلي: د سګرټ او قیلون څکول پر کرونا ناورغی د اخته کېدو ګوانښ ډېروي او هغه کسان چې سګرټ څکوي تر نورو ژر په کرونا باندې اخته کېدای شي او سبب دې اخته کېدلو علت هم همدا دی چې یاد ویروسونو دویم برید په سږو باندې اغېز کوي، چې بیا وروسته د ساه لنډوالی پیدا کېږي نو لوګی کول سږي ویجاړوي او د یروس دې خپرېدو ته لاره پیدا کوي.

**۲۱.نظافت د ایمان جزء وګڼئ!**

د کرونا ویروس لېږد یو څیز نه بل انسان ته د ناپاکی له امله پراخ مومي، د نظافت مراعتول ددې سبب کېږي چې ویروس سره مبارزه وکړو او ویروس پرې نږدو چې دننه وجود ته مو لاره پیدا کړي، نو هټیوال، کورنۍ او وګړي باید د خپل څیزونه د مېکروب په مایعو باندې پاک پرېمنځي، چې تر څو ویروس مړ او له منځه لاړ شي.

**۲۲.د لمر پتاوو نه ګټه پورته کړئ!**

د لمر پتاوي ویټامین D3 لري او حد اقل په ورځ کې د څو ګړیو لپاره له شته ویټامینونو نه ګټه پورته کړئ، ځکه په دې کړنې به مو دوه ګټې پورته کړي وي. لومړی: له شته ویټامین D3 نه ګټه پورته کوئ او دویم: د ویروس د مړ کولو او ویجاړولو بهانه به مو پیدا کړي وي.


**۲۳.له کومو سیمو څخه باید ډډه وکړو!**

هغو سیمو ته سفر مه کوئ چېرې چې د کورونا ویروس ناروغي خپره شوې وي په ځانګړې توګه هغه کسان چې د سږو، شکر، زړه ناروغي لري او یا یې عمر زیات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادښت:** په لاندې انځور باندې کښل شوي نښې د کرونا ویروس نښې بلل کېږي، که هر چا کې لاندې یاد شوي نښې موجودې وې نو ژر تر ژره دې روغتون ته مراجعه وکړي.




منبع: بي بي سي راډيو

یاده ناروغۍ ظاهرآ له تبې څخه پیلېږي، وروسته وچ ټوخي ته ګام اخلي او بیا د یوې اوونۍ په لړ کې د ساه لنډوالي پورې پراختیا مومي چې بیا ځینې ناروغان تر روغتون پورې رسېږي. او همدارنګه د کورونا ویروس (COVID-19) ناروغۍ د انسان ژوند اخلي ؟

په ځوانانو او کوچنیانو کې د دې ناروغۍ عفونیت د لویانو په پرتله نرم وي. خو په هرو ۵ یا ۶ کسانو کې د یو کس ناروغي سخته وي او روغتون کې بستر کېدو ته اړتیا لري. که چېرې یو ځوان یا کم عمره په دې ویروس اخته وي په خپل کور کې د زیات عمره مور، پلار، مشر ورو یا خور ژوند له ګوانښ سره مخ کولای شي له همدې امله باید احتیاط وشي. له کورونا ویروس څخه د خپل ځان ژغورنه د کور د نورو غړو ژوند ژغورنه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څنګه کولی شو خپل مخ ونه موښو چې په کرونا اخته نه شو؟**

روغتیايي ټولنو خبرداری ورکړی چې پر مخ باید د لاسونو وهل کم کړل شي چې په دې سره د کرونا ویروس تر یوه حده مخنیوی هم کېدای شي.
یو لامل شته، چې په ساري ناروغۍ د اخته کېدو لپاره لار هواروي، په تېره کله چې وبا نړۍ شموله شي، لکه همدا اوس چې د کرونا ویروس پر مخ لاس وهل د ویروس د لېږدېدو یوه اصلي لار ده نو څنګه موږ پر مخ له لاس موښلو ډډه کولی شو؟

ـ په انسانانو کې له بده مرغه یو عادت ددې لامل ګرځي چې ویروس ورشي.

د مخ په لاس موښلو کې ځینې حیوانات هم زموږ په شان دا کار کوي، خو موږ پرته له دې چې پام مو شي پر مخ لاسونه وهو. څېړونکو موندلې چې تر ډېره انسانان پر خپله پوزه او سترګو لاسونه وهي، چې دا د کرونا ویروس په څېر د ویروس د لېږدېدو وسیله ګرځي.

په سیډني کې نارت سوت ویلز پوهنتون د ساري ناروغیو د څارنې اړوندې کارپوهې ماري لاوس ماکلوز په ۲۰۱۵ کال استرالیا کې د طب پوهنځي پر محصلینو یوه څېړنه کړې وه.

نوموړې په دې څېړنه کې ومونده چې محصلین په یوه ګړۍ کې ۲۳ ځله پر خپل مخ لاسونه وهي، حال دا چې دوی پر مخ د لاسونو وهلو پر خطر ښه پوهېدل. پر مخ لاسونه وهل ځکه ویروس لېږدوي، چې زموږ پر لاسونو رنګارنګ ویروسونه او مېکروبونه وي، ځکه چې په خپل چاپېریال کې پر ډېرو داسې شیانو لاسونه وهو چې ویروس او مېکروبونهورباندې سرېښ وي یا آن داسې چا ته لاس ورکوو چې ویروس لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**.خو، ولې موږ پر مخ لاسونه وهو او څنګه له دې عادت ډډه کولی شو؟**

- په برتانیا کې د لیډز پوهنتون ویروس پوه سټیفن ګریفین وایي: ماسکونه اچول ښایي موږ ته را په یاد کړي چې پر خپل مخ لاسونه ونه وهو.

- د جرمني لایپزیګ پوهنتون ارواپوه مارټین ګرانوولډ وایي: پر ځان او مخ لاسونه وهل د انسان پر رواني حالت پورې اړه لري، چې تر ډېره دا کار په لاشعوري یا نیمه شعوري ډول کوي.

- د کلیفورنیا پوهنتون یوه ارواپوه ډاچر کیلټنز وایي: پر مخ لاس وهل ښایي د وېرې او اندېښنې کمولو پخاطر وي. ځینو څېړنو ښودلې چې پر پوست لاس وهل د اوکسایسټوسین هورمون له کبله وي، چې دا هورمون د اعصابو د ارامۍ او اندېښنې کمولو دنده لري.

خو ځینې انسانان بیا د مقابل لوري د پام اړولو لپاره پر مخ یا وېښتانو لاسونه وهي.

ځینې پوهان پر دې آند دي چې پر خپل ځان لاس وهل په احساساتو د کنټرول یوه وسیله ده.
که څه هم حیوانات دې عادت ته د مخ پاکولو لپاره مخه کوي او یا له خپل مخ او ځان نه حشرات شړي، خو انسانان بیا د ډېرو لاملونو له کبله پر مخ لاسونه وهي.
خو زموږ سترګې، پزې او خولې هغه غړي دي چې له لارې یې باکتریا او ویروسونه زموږ بدن ته ننوتلی شي.

په ۲۰۱۲ کال، څېړونکو په برازیل او واشنګټن مېټرو کې د ځینو خلکو معاینې واخیستې، چې په پایله کې یې جوته شوه دوی په لا شعوري ډول په یوه ګړۍ کې تر درې ځلو ډېر پر یوه شي او بیا پر خپلو پوزو او خولو لاسونه وهلي دي. د عامې روغتیا ځینې کارپوهان پر دې آند دي چې ګنې ماسکونه مو له هغو باکتریاوو ساتلی شي چې په لاسونو د پزې او خولې موښلو له لارې را انتقالیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو آن طبي ماسکونه هم د نورو وسیلو له لارې بدن ته د لېږېدونکو ویروسونو پوره مخه نه شي نیولی.

ـ په برتانیا کې د لیډز پوهنتون ویروس پوه سټیفن ګریفین وایي: ماسکونه اچول بنایي موږ ته را په یاد کړي چې پر خپل مخ لاسونه ونه وهو، ځکه چې د لاسونو سمو مینځلو په صورت کې د ویروس لېږدولو تر ټولو لویه وسیله کېدای شي او همدارنګه ماسک کارول بنایي له خلکو سره پر مخ د لاس وهلو مخنیوي کې مرسته وکړي.

ـ د کولمبیا پوهنتون د رواني چلن متخصص مایکل هولزویرت وایي: که اړتیا وه چې خپل مخ باید وموښې، نو د ګوتو او لاس پرځای یې پخپل مړوند وموښه. دی وایي: هغه کسان چې خپلې په مکرر ډول سترګې موښي، باید عینکې پر سترګو کړي، چې دا کړنه ورسره مرسته کوي د خپل عادت هېر کړي.

او بنایي پر یوه پاڼه داسې توري لیکل هم مرسته درسره وکړي چې" پر خپل مخ لاس مه وهه." (لیس شاپلي)

لاندې انځور ته باید پاملرنه وشي:



منبع: بي بي سي سایټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځارملنه

ځارملنې ته په عربي کې (قرنطینیه) وایي او د ایټالوي لغات (Quarantina) څخه اخیستل شوی، چې مانا یې څلوېښت ورځې او یا څهله ده.
د قرنطین لغت ریښه وینز (د ایټالیا یو ښار) ته ور ګرځي، چې هلته په ۱۴مه پېړۍ کې دوبرونیک (اوسنۍ کروشیا) مجبوره شوه چې ورغلې کښتۍ د طاعون (وبا) د خپراوي له وېرې ۴۰ ورځې په خپلو سواحلو کې ودوري.
قرنطین د ساري ناروغیو د مخنوي په پار د انسانانو د سلوک محدودولو ته ویل کېږي او یا پر سرحدونو او سواحلو هغه ځانګړي ځای ته ویل کېږي، چې هلته نوي راغلي مسافر، د ساري ناروغیو په موخه معاینه کېږي او محدودېږي.
او همدارنګه ځارملنه یا (قرنطینیه) د ویروس دې مخنوي لپاره هغه لومړی چمتوالی دی چې په عامه وینا لاس په ماشه ګرځېدل چې شېبه په شېبه د ویروس ګواښونو ته مجهزه ځارنه بلل کېږي. هغه کسان چې په ویروس باندې اخته شوي نه دي نو دې نو د ځارملنې لومړي ځېزونه ورته اړین برېښي چې باید یې عملي کړي او هغه کسان چې په دې ناروغۍ باندې شوي ښکاري نو د هغوی لپاره اړین دي چې باید ځان د جدي ځارملنې لاندې ونیسي.
ځارملنه په دوه ځانګو باندې وېشل کېږي. لومړی هغه کسان چې په کرونا ویروس باندې اخته شوي نو څه باید چې وکړي او دویم هغه ځېزونه چې باید د ځارملنې لاندې ونېول شي.

### ۱.په کرونا باندې اخته شوي کسان څه باید وکړي؟

ـ په کرونا باندې اخته شوي کسان یانې هغه وګړي کې چې د کرونا لومړې نښې لکه: تبه، ستونی درد، ټوخی، او د پوزې اوبه راتلل شتون ولري نو ژر تر ژر دې کوم صحي روغتون ته مراجعه وکړي چې تر څو په صحي روغتون کې چک یا بستر شي.
ـ هغه کسان چې پرنجی یا ټوخی کوي نو باید له ماسک څخه دې ګټه پورته کړي چې تر څو د کرونا ویروس نه نور خلک اغېزمند نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ویلل کېږي هغه کسان چې بهر له هېواده راستانه شوي نو ۲۵سلنه د کرونا ویروس پټې (خفیفې) نښې په کې لیدل کېږي چې باید د خپل ځان د چِک په آلې باندې مثبت یا منفي اغېزې را څرګندې کړي.

- په کرونا باندې اخته شوی کس دې د پورتنې یانې د وقایې د لارښوونې په مطابق باندې دې ځان سمبال کړي او څه چې ورته ویل شوي همغه دې عملي کړي چې تر څو د ویروس سره د خپل مبارزه څرګنده کړي.

**۲.د ځارملنې څیزونه:**

د ځارملنې یا د قرنطینې څیزونه هغه دي چې په امر او په نفې باندې ترسره کېږي، چې ددې خبرې متلب دا دی، یانې هغه څیزونو باندې امر یا هدایت کېږي چې باید ترسره شي او کوم څیزونو باندې نفې یانې ضرب کش کېږي چې باید ترېنه ډډه وشي، نو ددې امر او نفې څیزونه لاندې په ګوته کېږي.

**۱. له ډلیزو حمامونو تګ څخه ډډه وکړئ!**

په ډلیزه حمامونو کې د وګړو رش ډېر وي او همدارنګه د واټن لپاره هم کافي ساحه میسر نه وي او د خولې تف یو بل ته ټچ کېږي، نو په داسې ځایونو کې د ویروس لېږد یو انسان نه بل انسان ته ژر انتقالېږي. د ځارملنې لپاره له هغو ځایونو څخه ډډه وکړئ چې هغلته ګڼه ګوڼه ډېره وي.

**۲.کور کې پاتې شئ!**

تل به مو شکایت کاوه چې هیڅ کافي وخت د مطالعې او د کور کارونو لپاره نه لرو، نو همدا اوس یې وخت دی چې پاتې کارونو ته مو پای ورکړئ، کور کې پاتې شئ او د بې ځایه ښار ته تللو څخه ډډه وکړئ، د کور کارونه، تلوېزیون لیدل، مطالعه او مجازي نړۍ څخه سمه ګټه پورته کړئ. که غواړئ چې په کرونا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویروس اخته نه شئ نو په کور کې ځان د ځارملنې لاندې ونیسئ او د ویروس پر وړاندې تل چمتو اووسئ، چې ویروس تر تاسو پورې هم راتلونکی ده.

**۳.له ګڼه ګوڼې څخه وپرهېزئ!**

په دې ځانګې کې مو دمخه یادونه وکړه چې له ګڼې ګوڼې او د ښار بې ځایه تللو څخه ډډه وکړئ او په کور کې پاتې شئ، خو دلته بحث د جمعې لمانځه باندې ده او شرعي بحث به پرې وروسته وشي، دلته دومره یادونه اړینه ده چې د جمعې لمانځه څخه د یوې مودې لپاره باید ډډه وشي که احیاناً بیا هم ځئ نو فرض په جومات کې او سنت کاله ته راورسوئ.

یادښت:

**.عبادت مه هېروئ!**

زیاتره کسان په دې عقیده دي چې کاواکه زما عقیده ډېره لوړه ده او کرونا ویروس پر ما باندې کوم اغېزه نه ښندي، که دلته د عقیدې بحث رامخته کړو نو په ماشام کې د طاعون (وبا) ناروغی پیدا شوه او د ګوتو له شمېرو څخه ډېر پرې اخته او مړه شول، دلته بیا ما ته دا پوښتنه را پیدا کېږي چې آیا هغه کسان بې عقیدې ول، چې د طاعون په ناروغی باندې اخته او مړه شول؟ نه! دا زموږ دې ناپوهی ښکارندوینه کوي، ځکه د خدای ج له لوري پیدا شوی آفت او بېرته زموږ لپاره د حل لارې وټاکل شوې چې پورته ترې یادونه شوه چې باید د ناورغی په مقابل کې عملي شي. په هر صورت د کرونا ویروس پر وړاندې دوه ډوله مبارزه اړینه ده چې لومړی یې ظاهري بڼه لري او دویم یې د روح روان پورې تړاو ښندي. د ظاهري بڼې باندې پورته د خپل وسې پورې سپارښتنې وشوې خو د دویم ځانګې باندې به یې اوس تر یو حده پورې بحث وکړو. د کرونا ویروس پر وړاندې اړینه ده چې باید د خپل روان په نرمل حالت کې وساتو او د خپل له روان څخه وېره لرې کړو، ځکه موږ به د مېکروب له امله ناروغ نه شو خو موږ به د خپل له وېرې څخه په کرونا ویروس باندې اخته شو، نو اړینه برېښي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان کړه وړه کنټرول کړو او د دواړو اړخو په مرسته کولی شو چې ښه مبارزه د کرونا ویروس پر وړاندې وکړو. دلته یوه پوښتنه راخېږي چې غربي نړۍ ولې د کرونا ویروس پر وړاندې روحي کړه نه شي کنټرولولی ځکه که هغوی د ارواپوهنې په علم کې پرمختګ کړی وي خو په دې نه شي توانېدلی چې روحي آرامش رامنځته کړي، اوس د خپل اصلي خبرې ته را ګرځو؛ په اسلام کې د آرامښت ځانګړی لوی راز پروت دی چې هر څوک ددې آرامښت مزه نه شي څکلی او د مسلمانانو او کافرانو یو توپیر همدا دی چې هغوی د روان آرامښت څخه برخمند نه دي او د ځان وژنې ګراف په کې لوړ لیدل کېږي، نو که غواړئ چې روحاً د کرونا ویروس په وړاندې مبارزه وکړئ، نو عبادت مه هېروئ ځکه په عبادت کې د ژوند آرامښت پروت دی او تاسو د هر ډول ناورغې په مقابل کې قوي کوي، چې تر ټو ورسره مقابله وکاندئ. نو راځئ لمونځ او د الله ذکر مه هېروئ.





منبع: اسلام او دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کرونا ویروس ژوندی نه ده په همدې دلیل د هغه مړ کول ډېر ستونزمند کار دی**

ویروسونو میلیارد کالونه تېر کړل تر هغو چې د بقا هنر لپاره بې له ژوندي پاتې کېدلو بشپړ حد ته ورسېږي ـ د یو استراتېژي ویرې او په اغېزمنده توګه یوه قوي ګواښنه د نن نړۍ بدلوی شي.

له دې ځانګړنې سره د نوي ویروس په اړوند چې هلاک کوونکې ځانګې سره مَچ کوي، چې د نړۍ والې ټولنې بنه یې ډېر لړزولې او درولوې ده. دغه ویروس ډېری له یو ژنتېکي مادې ځخه دی چې په یو تېره پروټیني څوکې له خوا او د یو ۱۰۰۰ p په اندازه بر لري چې د سترګو بانه راچاچېرولی شي او همدا راز څو موجوده هدایتوي چې په سختۍ سره د ژوندیو یوه ټولګه (ارګانیسم) بلل کېږي. اما کله چې د انسان دې ساه اخیستنې سیستم ته ننوځي او زمونږه د بدن په سلولونو کې د پراختیا په توګه میلیون نور بنې هم راپنځوي. په خلاقه شیطاني استعدادونو کې د څرنګوالي په اړوند د ویروس زېږنده او د کرونا څرکونه په کې لیدل کېږي: دغه ویروس د انسان په بدن کې بې له هغه چې خپله خبر اووسي، وختي د خپل ځان ته ځای پیدا کوي. مخکې له دې چې حتی کوربه د خپل ځان نه نښې وښیي، ویروس د خپل نوې کڅوره له ځان نه جوړوي او په ټولو ځایونو کې پراختیا مومي، چې بیا وروسته د بلې قرباني په لور درومي.

نوموړی ویروس په ځینو کسانو د مرګ سبب ګرځي، اما په هغه کسانو کې چې اخته شوي دي تېښته کوي یا په کافي کچه باندې ملایم وي. تر اوسه پورې هېڅ کومه لاره ددې په دروولو کې نه لرو.

څېړونکو د واکسین درملنې په پنځوونه کې هڅې کړي چې ددې ناروغۍ په مبارزې کې لاسته رواړنه ولري، چې تر اوسه پورې ۳۵۰۰۰۰ کسان اخته او ډېر له ۱۵۰۰۰ وګړي یې مړه کړي؛ چې همداسې به دوام لري. دغه څانګه په هره شېبه کې د لوړېدو په حال کې ده او د سختې عملي حالت بیانوي چې د څېړونکو د مطالعې په برابر قرار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**.د شیمایي پوهې او د ژوند پېژندنې په منځ کې؛**

د ساه اخیستنې ویروسونه په دوه ځایونو کې؛ د ناپاکۍ (عفونت) او د پراختیا په حالت کې لېږدول کېږي. د سپږمو او د ستوني په ځایونو کې د لېږد تېزښت لوړ لیدل کېږي او د ربیو په لاندې څانګو کې په ستونزو سره خپرېږي اما ډېر وژونکی ښکاري.

دغه نوی کرونا ویروس چې دې (SARS- COV-2) باندې نومول کېږي، ډېر په چلاکۍ سره د ساه اخیستنې په سیستم کې ځای اختیاروي او له هغه ځای څخه کولی شي، ډېر په راحتۍ سره د پرنجي او د ټوخي په مرسته وروسته قربانۍ ته ولېږدول شي. اما په ځینو ناروغانو کې، ځان د ربیو منځ ته رسوي چې بیا کولی شي د مړ کېدو سبب وګرځي. دا یو داسې ترکیب دی چې د یخ وهلې له ویروس څخه او د سارس هلاک کوونکي ناروغۍ څخه اووسي، چې په کال ۲۰۰۲ ـ ۲۰۰۳ په آسیا ځایونو کې رایج شول.

ددغه ویروس یو بله حیرانونکې ځانګړتیا دا ده چې ډېر په آرامه پراختیا مومي او علایم او ناورغۍ یې د سارس په پرتلنه ډېر وروسته ځان ښیي، بیا دا ددې سبب کېږي، چې هغه کسان مخکې د اخته کېدو په نښو باندې پوه شي، نو ژر له هغه څخه بل کس ته لېږدول کېږي.

په بل عبارت، دغه ویروس په کافي کچه باندې چل ورکوونکی دی، چې کولی شي د نړۍ والې اړیکو آفت وګرځي. ویروسونه مسؤل دې ډېرو وېجاړونکو ناروغیو بلل کېدای شي، لکه «انفلونزا» «سارس» «مارس» او «ابولا» چې له ۱۰۰ کالو نه تر دې دمه را تېر شوي دي. ددغه ویروس اخته کېدل له ژیو (حیواناتو) څخه دي او له ژیو څخه انسانانو ته خپرېږي، او دا ټول اغېزمنېدل له هغه ویروسونو څخه دي چې ژنټیکي ماده یې په RNA کې د رمزونو غوندې ځایېږي.

کارپوهان وایي: چې دا یو دمي پېښه نه ده، د ویروس ژوندی موجود په RNA کې ددې سبب کېږي چې خپرېدل یې آسانه او له منځه وړل یې سخته وبرېښي.

له کوربه څخه په بهر چاپېریال کې ویروسونه په خوب کې تللي وي او هیڅ یو د لومړي علایمو په ژوندي موجود کې لکه: متابولسم غوندې د خوځښت او د وړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړونې مثال نه لري او دغه طرز کولی شي چې دې دوامدارې مودې په لړ کې دوام ومومي. د لابراتوارونو اخري څېړنو ښودلې دي، چې د SARS- COV- 2 ویروس په معمول ډول د څو شېبو او څو ګړیو په دوام کې له کوربه څخه بهر چاپېریال کې له منځه ولاړ شي، اما د هغې ځینې ذرې کولی شي چې دې ځینو پاړو په مخ کې؛ لکه: د ۲۴ ګړیو لپاره په کاغذي کارتن او پلاستیک کې پاتې شي او د وسپنو په مخ باندې تر دریو ورځو پورې ژوندی او د رغښت په ډول ناپاکه پاتې کېدلی شي. په کال ۲۰۱۴ ع کې، نوموړی ویروس د ۳۰۰۰۰ کالونو په مودې او یو ساړه چاپېریال کې د کارپوهانو له خوا ومیندل شو او وروسته پرله پسې په لابراتوار کې آزمايښت او د یو آمیب په اخته کېدو باندې وتوانیده چې اغېزه وښیي.

کله چې ویروسونه له کوربه سره مخامېږي، د خپل شته پروټینونو د خلاصېدو په کچه او د کوربه په سلولونو باندې د برید په وخت کې ګټه ترې اخلي، نو بیا ویروسونه د سلولونو مالیکولي سیستم د خپل په واک کې نیسي، تر هغو چې د اړوند ضرورت مواد د ویروسونو د ډېروالي، راټولېدنه او پنځوونه وکړي. ګري وایتکر، د ویروس پېژندې او ایالاتو متحدې د کورنل پوهنتون استاد وايي: چې ویروس د ژوندي او غیرې ژوندي موجود په منځ کې د توپیر په حال کې دی او له ویروس څخه « د شیمايي پوهې او د ژوند پېژندې» په ځای کې ترینه ستاینه کوي.

د ویروسونو په منځ کې RNA او کرونا ویروسونه د پروټیني تېز څوکې بڼې په پار چې دې خول (تاج) غوندې دي او دغه نوم یې خپل ځان ته اخیستی، (کرونا ته په انګلیسي په ژبه کې د خول (تاج) مانا ورکوي) چې د پېچلتیا او د اندازې په نظر دغه ویروسونه بې نظیره بلل کېږي.

کرونا ویروس د ویروسونو یوه لویه کورنۍ راچاپېروي چې درې برابره غټ له هغو ویروسونو څخه دي چې سبب دې مړې تبې، غربي نیل او زیکا کېږي. د ویروسونو دغه لویه کورنۍ کولی شي چې اضافي پروټینونه وپنځوي او سبب دې ډېروالي د هغوی دې بریا لپاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وینټ مناچري، د ویروس پېژندنې استاد د تګزاس پوهنتون د صحي روغتیا په ځانګه کې وایي: د ویروس ناروغۍ د مړې تبې عامل بلل کېږي او جوړښت یې لکه چکش غوندې دی، اما کرونا ویروس درې عدده لوړ جوړښت لري چې هر یو یې بېل حالت کې په کار لوېږي.

د هغو توکو په منځ کې یو هم د سمونې پروټین شتون لري چې کرونا ویروسونو ته اجازه ورکوي تر څو هغه د پراختیا په ځانګه کې کوم عیب چې پیدا شوی وي، هاخوا یې کړي. هغوی اوس هم کولی شي چې له باکتریا څخه په لوړه کچه ژنتیکي مواد پیدا کړي، اما لږ احتمال شتون لري، بځیان وزېږوي چې سبب دې خپرېدو او وشي کولی چې ژوندي پاتې شي.

په اوسني حال کې د بدلون وړتیا له دې ویروسونو سره مرسته کوي چې د نوي چاپېریالونو سره جوړ جاړی وکړي، شاید ددې ویروس لېږد د اوښ له ناپاکو کولمو څخه یا د انسان دې ساه اخیستنې له سیستم څخه وي چې په ناپامۍ سره د سپږمو لاس وهنه یا اړیکه بلل کېږي، چې بیا وروسته هغوی ته دې دننه کېدو اجازه ورکوي.

کارپوهان په دې عقیده دي چې «سارس» ویروس د ژیو په بدن کې وو چې د وحشي پشکو له پلورلو څخه په نامه دې «زباد» یا د ژیو په بازار کې انسانانو ولېږدول شو. تصور کېږي، دغه نوی ویروس کولی شي په نورو ژیو کې هم وه ارزول شي، چې احتمالآ د یو ژوي له لورې په نامه دې «پانګولین» انسانانو کې خپور شوی دی.

ـ جفري توبن برګر ویروس پېژندونکی او د ملي انستیتوت د آلرژي او د عفوني ناروغیو له ځانګې څخه وایي: «فکر کوم ۲۰ کېږي چې طبیعت مونږ ته وایي؛ هغه ویروسونه چې په ژیو کې دي ددې سبب کېږي چې هر ډوله ناروغۍ په انسانانو کې پیدا کړي، لکه: انفلونزا چې د دوامدارې مودې لپاره به ګواښوونکی اووسي.

ـ توبن برګر وایي: د «سارس» مشهورېدلو څخه وروسته د کرونا ویروسونو د څېړنو بودجې باندې یې پراختیا ډېره راغلې وه، اما په اخري کالونو کې دغه بودیجه وچه شوه. د نومړې په خبرو؛ چې همدا ویروسونه معمولآ د یخ وهلې (والګي) سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځي او د نورو ویروسونو د ناروغۍ په زېږنده کې له ځانګړي ارزښتونو څخه برخمند نه دي.

**.د وسلو په څېړنو کې؛**

ویروس وروسته له دننه کېدو څخه د کوربه په حجرو کې کولی شي چې د څو ګړیو په لړ کې ۱۰۰۰۰ نوي کڅوړې راجوړې کړي او د څو ورځو په لړ کې، اخته شوی کس سل میلیونه دغه ویروس د خپل دې وینې په هر کاشوقۍ کې ولېږدوي. دغه لېږد سبب دې شدیدې ګواښنې د کوربه د ساتنې په سیستم کې پیدا کولی شي، یانې د شیمایي دفاعي مواد آزادېږي، د بدن تودوخه لوړېږي او بلآخره سبب دې تبې کېږي. د وینو سپینه مایعې لکه د ځواکونو پوځ غوندې اخته شوی چاپېریال محاصره کوي. او غالبآ، دغه غبرګون سبب کېږي چې کس ناروغ شي.

ـ اندریو پیکوز، د ویروس پېژندنې استاد چې په جان هاپکینز پوهنتون کې دنده لري، چې ویروسونه له سارقین ویجاړونکي سره پرتله کوي. د هغه په پرتلنې سره وایي: ویروسونه ستاسو کورونو ته ژر را دننه کېږي، ستاسو خواړه خوري، ستا له فرنیچر نه ګټه اخلي او د ۱۰۰۰۰ بچیانو په پنځونه کې ستاسو کور په کثافت دانې باندې اړوي او متاسفانه! انسانان د سارقین په مقابل کې ډېر کم ساتونکي لري.

ډېری د ضد دې مېکروب درملنې، د هغه مېکروبونو په کړنو باندې چې ناوړې هدفونه لري، کار کوي. د مثال په توګه، مالیکولي پنسلین چې د باکتریا ګانو په دېوال جوړونې او د باکتریا په سلولونو کې ګټه ترې اخیستل کېږي او له منځه یې هم وړلی شي. دغه درملنه له شمېرونه ډېر په هر ډول باکتریا باندې موثره اغېزه ښندي، اما له هغه ځایه چې د انسانانو سلولونه ددغه مېکروب له پروټین څخه ګټه نه اخلي، خو کولی شي بې له ضرر رسولو څخه زمونږ بدن له هغه څخه ګټه پورته کړي.

اما ویروسونه زمونږ له خوا کار کوي. بې له ځانګړنې د سلولونو په شتون سره هغوی مونږ باندې کنټرل شوي دي. د هغوی پروټینونه زمونږ پروټینونه دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ضعف ټکي زمونږه د ضعف ټکي بلل کېږي. اکثره درملنې دي چې شونې ده هغوی ته ضرر رسوي، اما موږ ته هم ضرر رسولی شي.

ـ کارلا کرکګارد، د ویروس پېژندنې استاد او د استنفورډ له پوهنتون څخه وايي: په همدې دلیل د ویروس ضد درملنه باید ډېره هدفمنده او ځانګړې اووسي، ځکه دا ډول درملنه موخه لري چې د ویروس له لورې راپنځول شوي پوریټنونه (زمونږ د بدن د سلولونو سیستم په کټې اخیستنې سره) په عنوان دې ځینو ښکاره علایم د ویروس هدف لاندې راشي. دغه پورټېنونه د ویروسونو څخه یې بې مثاله بلل کېږي. په دې پوه شه چې ددې درملنې مانا له یو ناروغۍ سره مبارز کولی شي، معمولآ د څو نورې ناروغیو لپاره نه په کار کېږي او له هغه ځایه چې دغه ویروسونه ډېر په تیزښت سره خپرېږي او د شمار علاجونه یې چې بریالي کارپوهانو د هغه په وړاندیز باندې دي، وايي: چې هر کله د اوږدې مودې لپاره کار نه کوي. په همدې دلیل چې کارپوهان باید پرله پسې نوي درملنې د ویروس د ناروغۍ په درمان کې وړاندې کړي چې HIV د هغه له بریالي بېلګو څخه بلل کېږي. ویروسونه د ژنټیک لرونکې په اثر د درملنې په مقابل کې وړتیا نه لري او په همدې دلیل ناروغان باید هر ډول درمل مصرف کړي.

ـ د کرکګارد په وینا، مدرن روغپوهان باید د نوي رامنځته شوي ویروسونو په پېژندولو کې هڅې وکړي.

د (SARS- COV-2) ویروس په ځانګړې توګه ډېر رمز لرونکې ده، لکه څرنګه چې د هغه کړنې متفاوتې د تره زوی (سارس) څخه دي، اما لږ ښکاره تفاوت چې ددوی په تېز ځوکه پروټیني جوړښت کې لیدل کېږي، دا عامل کېږي چې د کوربه په سلولونو کې هغوی ته د برید اجازه ورکړي.

ـ الیساندرو سِته، د لاجولا ایمونولوژي څېړنیز انستیتوت او د عفوني ناروغیو مرکزي رییس له کالیفورنیا څخه وايي: ددغه پروټینونو پېژندګلوي کولی شي چې د واکسین اصلی کلي اووسي. مخکیني څېړنو ښودلې دي چې تېز ځوکه پروټین په «سارس» کې سبب دې جوړونې ساتنیز غبرګون د بدن په ایمني سیستم کې اووسي. په یوې جلا مقاله کې نشر شوي، چې ښاغلي سِته موندلې دي چې همدا شان مساله د SARS- COV-2 ویروس کې هم حقیقت لري. د سِته په وینا، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر یوازینی دلیل دې کارپوهانو خوښمن کېدل دي. دغه ریښتینې عقیده څېړنپوهانو منلې چې دغه تېز څوکه پروټیني جوړښت لا ښه موخه د واکسین جوړولو لپاره بلل کېږي. که وکړي په همدې پروټیني ډولې کڅوړې باندې واکسین شي نو کولی شي چې د بدن ساتنیز سیستم د ویروس د زده کړې په اړوند مالوم کړي او هغوی ته اجازه نه ورکوي چې په تېزښت سره برید ورکړي.

د ښاغلي سِته په وینا، د کرونا نوی ویروس هغومره هم نوی نه ده او همدارنګه د SARS- COV-2 د خپل دې غتې تره زوی «سارس» سره هغومره توپیر نه لري، احتمالاً دغه ویروس ډېر په تېزښت سره پراختیا نه مومي او کارپوهانو ته فرصت ورکوي چې نوموړي ویروس ته واکسین چمتو کړي.

په اوسني حال کې، د کرکګارد په وینا، بهترینې وسلې چې مونږ د کرونا په مقابل کې لرو، عمومي روغتیایي اقدامات دي. لکه: صحي آزمایښتونه، ټولنیز واټن په نظر کې نیول او د خپل د بدن ساتنیز سیستم بلل کېږي.

د کرکګارد په توجو ټول شیطاني استعدادونه، اغېزمنېدل او د هغوی د مرګونې لارې چارې په مطابق وایي: دغه ویروس واقعاً نه غواړي چې مونږه ووژني، ځکه که تاسو روغ اووسئ او وشي کولی چې تګ راتګ وکړئ نو د ویروس او د هغې د ډلو خپرېدو ته ښه پای مومي.

کله چې ددغه ویروس د پراختیا په هکله بحث مخې ته راځي، متخصصان عقیده لري چې د ویروس دې پراختیا نهایي موخه دا ده چې له یو کوربه څخه بل ته ولېږدول شي او په عین حال په کوربه کې د هغه ملایم اوسېدل دي ـ متل دی (یو غل او کم ویجاړوونه ولې یو با هوښه مېلمه ډېر)

په همدې دلیل ډېر مرګوونکي ویروسونه لکه «سارس» یا «ابولا» لېوالتیا لري چې د خپل ځان له منځه یوسي او هېڅ کوربه هم ژوندی پرېنږدي تر څو د خپرېدو عامل نه شي.

اما هغه مېکروب چې زوروونکی وي کولی شي چې خپل ځان تر یو نامحدوده وخته پورې ژوندی وساتي. د ۲۰۱۴ یوې مطالعې ښودلې دي چې ۶ میلیون کاله کېږي چې انسان نوموړي چارو سره لاس او ګرېوان دي. د کارکګارد په وینا دغه ویروس ډېر بریالی ویروس بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې منظور چې په نوي کرونا ویروس باندې په ټوله نړۍ کې اوس مهال ډېر شمېر وګړي اخته شوي ښکاري. تر اوسه پورې د ژوند په لومړي ورځو کې اوسېږي او په ډېر ویجاړونکي توګه نورې کڅوړې هم راوپنځوي. اما ورو ورو او د وخت په تېرېدو سره د هغوی RNA به بدلون وکړي، یو ورځ او د راتلونکې ورځې نه لرې لرې، دغه نوی ویروس به لکه د یخ وهلي (والګي) یا نورو ویروسونو غوندې په کالونو باندې بېرته بیا راتاوېږي او یوازې سبب دې ټوخي به کېږي او د نورو څېزونو نه! (سارا کپلان، ویلیم وان او جون آخن بخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نړۍ وروسته له کرونا ویروس څخه؛**

دغه توپان تېرېږي، اما زموږ اوسني ټاکنې کولی شي چې زموږ ژوند د راتلونکي کالونو لپاره بدل کړي.

په اوسني حالت کې؛ بشریت د نړۍ والې کړکېچ سره ګواښېږي، چې شاید ډېر لوی کړکېچ زموږ د نسل لپاره وي. هغه پرېکړې چې وکړو او دولتونو د راتلونکې څو اوونیو په لړ کې نېولې، شونې ده چې د راتلونکې نړۍ دې بڼې ورکولو لپاره وي. دغه پرېکړې نه یوازې د روغتیا په سیستم کې د بدلون سبب کېږي، بلکې د راتلونکې اقتصاد، سیاست او د فرهنګ بڼې هم بدلوي. زموږ هڅې ګړندې او د راتلونکي جوړولو لپاره دي او موږ باید د دوامدارې مودې نتیجې ته هم متوجې اووسو. د ګزینو ټاکلو په وخت کې، په دې نظر سره چې موخه یوازې د لنډې مودې ګواښوونکي بریدونه نه دي، باید خپل ځان نه وپوښتو، چې د پای له توپان څخه وروسته؛ څنګه دنیا غواړو چې په کې ژوند وکړو؟ هو! دغه توپان تېرېږي، بشر ژوندی پاتې کېږي، اکثره زموږ ژوندي پاتې کېږي، اما په متفاوتې دنیا کې به ژوند کوو.

ډېری اضطراري هڅې چې نن نېول کېږي خو ژر تېرېږي، ولې حتمن ضروري ځانګو کې ژوند کېږي، دغه طبیعت اضطراري حالت کې دی، پرېکړې چې په عادي حالاتو کې نېول کېږي د کالونو ژور او جدي لید ته اړتیا لري، په دغسې حالاتو کې یوازې څو ګړۍ نیسي. حتی خطرناکه ټکنالوژي ګانو نه د اړتیا په صورت ترې کار اخیستل کېږي، ځکه چې د هغه خطر کم له نه کولو څخه ده. ډېری هېوادونه په اوسني حالت کې د ټولنیزو لویو تجربو په کړو کې قرار لري. څه پېښېږي! چې هر څوک له کور نه کار وکړي او اړیکې له واټنونو څخه وشي؟ څه پېښېږي! چې ښوونځې او پوهنتونونه آنلاین شي؟ په عادي حالتونو کې، دولتونه، سوداګریز شرکتونه او زده کړه ییز بوردونه به هېڅکله لاس په دې تجربو وانه چوي، اما اوس حالت عادي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کړکېچونو په وخت کې، موږ له دوه مهمو څانګو سره ګواښېږو، لومړی څانګه « د توتالیتر څارنه یا د ښار وګړو وړتیا» دویمه څانګه « د ناسیونالیستي انزواء او سره تړلي نړۍ وال اړیکې» دي.

**.پټه څارنه:**

ددغه اپیډمي د دروولو په منظور (د کرونا ټول نړوونکی ویروس)، خلک باید د یو لړ ځانګړي لارښوونو څخه پیروي وکړي. ددغه امر په لاس ورکړي کې دوه ډوله اساسي لارې شتون لري. د هغه لومړی میتود د دولت پورې تړاو نیسي، چې باید د وګړو څارنه وکړي او هغه چې قواعد نظر لاندې نه نیسي باید جزاء ورکړل شي. نن، د لومړي ځل لپاره د بشر په تاریخ کې ټکنالوژي شونې کړه چې د څارنې وړتیا لري او کولی شي چې هر وګړی په هر وخت او هر ځای کې نظر لاندې ونیسي. پنځوس کاله دمخه، «کې جي بي» ددې وړتیا نه درلوده چې د ۲۴۰ میلیونه د ښار وګړي وڅاري او همدارنګه د شوروي اتحاد څارنه د ۲۴ ګړیو لپاره وکړي او هغه نه شو کولی چې یو ورځني ټول لاسته راغلي مالومات تحلیل او ارزونه پرې وکړي. د مالوماتو د لاسته راوړلو او د ارزونې لپاره هغه د بشري ځواکونو ته اړتیا درلوده او د شوروي وګړو د څارنې لپاره « کې جي بي» هغومره وړتیا نه درلوده. اما اوس، دولتونو ددې په ځایې چې بشري ځواکو څخه ګټه واخلي، بلکې لویه تکیه یې د ټکنالوژي په عملي لارو چارو باندې ده، چې په هر ځای کې لکه د سیوري غوندې راحاضرېږي.

ډېری هېوادونو د کرونا ویروس اپیډمي یا مبارزې سره نوي څارنیز توکي په کار اچولي، چې چین ښه مثال ددې لپاره ده. د نژدې او جدي څارنې سره د خلکو هوښمند ټلیفونونه او کیمرې اخیستنه له میلیونو او سلو کمرو څخه چې د څېرو په پېژندنه او د روحیې په لوړېدو کې مرسته کوله او د روغتیا له سم حالت څخه یې ګزارش ورکوه، د چینایانو مقامونو نه یوازې د کرونا ویروس د لېږد علتونه ودروول، بلکې د وګړو ټګ راټګ یې د څارنې لاندې ونېوه او د هغوی اړیکې یې څارلې. همدارنګه د ګرځنده ټلیفونونو لپاره یې ځانګړي برنامې جوړې کړې وې، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار وګړي اړیکه او نژدې کېدل د روغبړ لپاره هغه کس ته چې د کرونا ویروس باندې اخته وي خبرداری یې ورکاوه.
دغه ډول ټکنالوژي یوازې ختیځ آسیا پورې نه محدودېده. بنې آمین نتانیاهو، د اسرائیلو لومړی وزیر د کرونا ویروس د څارنې په پار ددغه ډول ټکنالوژۍ څخه د کټې اخیستنې اجازه او د همدغه هېواد امنیتي څانګو ته وسپارل شوه چې معمولاً د تروریستانو پر وړاندې د مبارزې په توګه ترې ګټه اخیستل کېده. کله چې د اسرائیلو پارلمان دغه پرېکړه یې رد کړه، خو لومړي وزیر نتانیاهو، د اظطراري حالت د عنوان لاندې د ګټې اخیستنې امر یې ورکړ.
شاید دلیلونه شتون ولري چې دغه نوی څیز نه دی. په آخري کالونو کې، دولتونو او شرکتونو له پیچلې ټکنالوژۍ څخه د وګړو د څارنې په پار ترېنه ګټه اخیسته. که په ډاګه یې کړو، دغه اپیډمي شاید نوي بدلونونه د وګړو د څارنې په تاریخ کې ثبت کړي. نه یوازې دغه امر سبب دې عادي ګټې اخیستنې د څارنې په ترڅ کې وبلل شو، همدارنګه په هغه هېواد کې چې تر اوسه پورې په دغو توکو باندې بندیز وو او کېږي بلکې د ډراماتیکو پیلیز روند او بدلون؛ یانې «ښکاره څارنه» په «پټې څارنې» باندې کېږي.
تر دې دمه، کله چې تاسو غواړئ، د ټیلېفون سکرین مو په ګوتو باندې خلاص کړئ، دولت دقیق پوهېږي چې تاسو څه غواړئ ووایئ یا پوه شئ. اما د کرونا ویروس په اړه، توجو بلخوا اوړي. اوس دولت غواړي چې د ګوتې په حالت او د وینې په فشار باندې پوه شي.

**.اظطراري مخکښونه:**

یو له هغو ستونزو څخه چې موږ د څارنې په وخت کې ورسره مخ یو، دا دی چې زموږ څخه هېڅ یو په دې نه پوهېږي چې څنګه څارل کېږو او دغه روند د راتلونکو کالونو لپاره به څنګه وي؟ د څارنې ټکنالوژي په چټکۍ سره د پراختیا په حالت کې ده. هغه کارونه چې لس کاله مخکې لکه د تخییل غوندې وو، خو نن لکه د یو زاړه خبر غوندې برېښي. تصور وکړئ، که یو فرضي دولت غوښتنه وکړي چې د ښار هر وګړی د بایومټریک لاس بندونه واغوندي، چې د بدن تودوخه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه څپې پرې د ۲۴ ګړیو په لړ کې د ارزونې لاندې ونیسي؛ مالومات لاسته راغلي، چې د دولت له لورې پانګونه شوې او دولتي ځانګې د ارزونې لاندې نیول کېږي. دغه ځانګې، محکې له تا څخه په ناروغتیا باندې دې پوهېږي او همدارنګه هغوی پوهېږي چې ته چېرته تللی وې او له چا سره دې لیدنه کړې وه. په دې ترتیب د ویروس دې اخته کېدو زنځیر د لنډتیا او د قطع کېدو بنه اخلي. همدراز د ملاحظې یو بریالی سیستم، د څو ورځو په لړ کې، ددغه اپیډمي د پای سبب ګرځي. دغه سلسله بنه په نظر رسي یا بد؟

البته د هغه شرعي تاوان په یو نوي سیستم کې د وېرې غوندې برېښي. که تاسو پوه شئ، چې ما یوه پاڼه د «فاکس نیوز» په ځای د «سي ان ان» باندې خلاصه کړې ده، شونې ده چې تاسو زما د سیاسي علاقې او زما د شخصیت په اړه څه پوه شئ. اما که تاسو زما د بدن تودوخه، د وینې فشار او د زړه څپې د یو ویډیو د لېدلو په وخت کې وه ارزوئ، نو دغه تاسو اړ کوي چې د ځینو څیزونو باندې تمرکز وکړئ چې څه شی زما د خوشالي، ژړا او د فکر بدلون کېږي، پوه شئ.

ډېری حیاتي خبره ده چې پوه شئ، غوسه، خوشالي، ستړیا او مینه مثلاً تبه او ټوخی چې دا ټول بیولوژیکي پدیدې بلل کېږي. هغه ټکنالوژي چې ټوخی مالوموي، نو کولی شي چې خندا هم مالومه کړي. که شرکتونه او دولتونه د بایومټریک په مالوماتو باندې کار وکړي چې مونږ یې د سترګو لاندې اوسېږو او هغوی پرې لاس بري دي. هغوی کولی شي چې مونږ ډېر د خپل له ځانه وپېژني. هغوی نه یوازې چې زمونږه د احساساتو فال لیدلی شي بلکې هغوی کولی شي چې له دغو احساساتو څخه ګټه واخلي او هر څه چې غواړي مونږ باندې یې وپلوري ـ او همدارنګه دغه کېدلی شي چې یو سوداګریز محصول او یا یو سیاستمدار وي ـ د بایومټریک څارنه، د اثریېز تکتیکونو ځانګې «انالاتیکا کامبریج» ( او اشاره هغه سیاسي رسوایي ته ده چې په کال ۲۰۱۸ع کې پېښې شوی چې ددغو ځانګو مالومات میلیونو فیسبوک پاڼو کې یې اثر درلوده او لاس رسی پیدا کړی وو) بیا دا داسې ښودنه کوي چې ګواکه د حجر (فشار) له امله به وي. شمالي کوریا په ۲۰۳۰ ع کال کې تصور کړئ، کله چې د ښار هر وګړی د ۲۴ ګړیو لپاره د بایومټریک لاس بند اغوستلو ته اړ کړي او د غوږ کېښودنې په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل د رهبر وینا ته؛ دغه لاس بند د نارامښت نښې مسوولینو ته لېږدوي نو بیا ستاسو کار پای ته رسېدلی.

البته کولی شي د بایومټریک څارنه د موقت سکالو او د اضطراري حالت په اړوند اووسي خو شونې ده، چې ددغه حالت په پای سره د هغه ګټه اخیستنه نه هم پای ومومي. اما د موقت هڅو دې دوام لپاره هر کله لېوالیتا زیاته وي او په ځانګړې توګه په هغه وخت کې چې حالت د اضطراري په کمین کې وي. د مثال په توګه زما هېواد اسرائیل دی، د جګړې په محال د خپلواکۍ اعلان یې په کال ۱۹۴۸ کې د اضطراري حالت په توګه اعلان کړ، چې ځینې هڅې یې لکه سانسور رسنۍ او د ځمکو مال یې د اثر لاندې ونېوه. اسرائیل ډېر کالونه مخکې د جګړې په خپلواکۍ کې بریالي شوي ول، اما هېڅکله هغه اضطراري حالت یې پای ونه موند.

حتی تر هغه محاله پورې چې د کرونا ویروس پراختیا له صفر سره ضرب شي. ځینې هېوادونه د خپل د ښار وګړو د مالوماتو له لاس رسۍ څخه تمه لري، د کرونا ویروس نوي څپې او یا په مرکزي افریقا کې اِبولا او یا.... نورې بهانې یې میندلي او ددغه ډول څارنې لېوالتیا ښیي. په اخرینې کالونو کې ددې شاهدان وو چې د لوی زبر ځواکونو رقابت په پار د خپل ځانګړي حریم ساتلو ته ناست ول. اما د کرونا ویروس کړکېچونه کولی شي چې ددغې ټکي په منځ د تړاو سکالو رامنځته کړي. کله چې خلک ددغو دواړو ځانګو نه؛ چې ځانګړی حریم او د روغتیا ټکي دي چې باید یو وټاکي؛ دلته پوښتنه رازېږي چې خلک به کومه ځانګه وټاکي؟ نو یقیناً د روغتیا ټاکلو ته اړ کېږي چې بیا دلته د ژوند او مرګ خبره ده.

**.صابون ساتونکی (د صابون جامد ځواک):**

د خلکو غوښتنې ددې په پار چې د ځانګړي حریم او د روغتیا په منځ کې کوته په غاښ پاتې شوي دي، په رښتیا چې دا د ستونزې اصلي ریښه ده او د همداسې طرحو یو مسئله ناسمه برېښي. مونږ کولی شو چې د دواړو فضلیتونو څخه برخمند شو، نه! د هغو جوړونکو ځانګو څخه چې د څارنې سیستم یې د توتالیتاري نظامونو څخه وي، بلکې د ښار وګړو هڅوونه په دې باندې چې د خپل روغتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ساتنه وکړي او بلآخره اپېډمي کرونا را مهار کړي. د څو اونیو په پای کې، د کوریا جنوبي هڅې، تایوان او سنګاپور د اپېډمي کرونا ویروس د منځه وړو په امر باندې بریالي ښکارېدل. په داسې حال کې چې نوموړي هېوادونو د څارنې خپوروونو څخه ګټه اخیستې او د آزامیښتو په پراختیا کې، د زړه له تله یې ګزارش ورکوه، او د روحي همکارۍ په ترڅ کې د ټولنې په منځ کې د عامه پوهاوي باندې ډېره لویه تکیه درلوده.

سخته جزاء او د څارنې تمرکز د وګړو په کړنو باندې د اړ کولو یوازینۍ لاره نه ده چې له پیروۍ او د قوانینو له لاربښوونو څخه اطاعت وکړي. کله چې وګړي د علمي حقایقو په اړوند پوهېږي، مسوولینو باندې باور کوي او ریښتیا هغوی ته وایي. د ښار خلک کولی شي، چې د غټ ورور له څارنې نه پرته سم کار وکړي. معمولاً هغه ټولی چې نوښت او رغښت پوهاوی لري، فعاله ده له هغه ډلې څخه چې کنټرول شوی او ناپوهه دی.

د مثال په توګه لاس مینځل په صابون باندې په نظر کې ونیسئ، چې دغه لوړ پرمختګ د بشر په روغتیایي څانګو کې بلل کېږي، چې دغه ساده عمل، په کالونو کالونو کې د میلیونو انسانانو ځان ژغورلی شي. په داسې حال کې چې مونږ دا یو ساده کار ګڼو، خو یوازې نولسمه پېړۍ وه چې څېړنکو د لاس مینځلو ارزښت یې کشف کړ چې باید ورته پام وشي. پخوا وختونو کې حتی ډاکټرانو او نرسانو د لاس مینځلو څخه پرته د څو جراحي کړنې به یې پرله پسې کولې. خو نن، له میلیونو څخه زیات انسانان په ورځ کې څو ځله لاسونه په صابون باندې مینځي، نه په دې دلیل چې د صابون له ځواکونو څخه هراس لري، بلکې په دې دلیل چې ریښتوني حقیقتونه یې درک کړي او موندلي دي. زه لاسونه مې په صابون باندې پرېوم، ځکه چې د ویروس او د باکتریا په اړه مې اورېدلي او پوهېږم چې دغه واړه مېکروبونه د ناروغۍ سبب کېږي او پوهېږم چې صابون کولی شي، دغه مېکروب له منځه یوسي.

اما د نوموړو جوړونکو کچو او د همکارۍ په لاسته راوړلو سره خلک باید په علم باندې باور ولري او په دولتي مقامونو او رسنۍ باندې ټینګ باور وکړي. څو کالونه تېر شول، غیر مسؤله سیاستمداران معمولاً په علم، ساینس، دولتي مقامات او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنیو باندې یې د ټیټې درجې باوورونه راوکښل. اوس شونې ده چې همدغه غیر مسؤله سیاستمداران دې په خوځښت باندې شي، چې تر څو د دوامدارې وړتیایېزې کوڅې طی کړي، او دې سمو لارو غوښتونکي شي. په دغو غوښتنو سره تاسو یوازې نه شئ کولی چې په خلکو باور وکړئ چې تر څو سم کارونه وکړي.

معمولآ هغه باور چې د دوامدارې مودې په لړ کې له منځه تللی وي، ناشونې ده چې په یوه ورځ او یو شپه کې بېرته لاسته راشي، اما دغه عادي وخت نه دی. د کړکېچونو په وخت کې دماغونه هم کولی شي چې په تېزښت سره بدلونه ومومي. تاسو کولی شئ چې د خپل خور او ورور سره په کالونو کالونو خفه اووسئ، اما د کړکېچونو په شرایطو کې، یو دم نا بلل شوی یو پټ احساس، باور او ملګرتیا په وجود کې مو راښکاره شي او د یو بل په مرسته سره وخوځېږئ.

په ځای ددې چې د څارنې یو رژیم جوړ کړئ، نو اړینه ده چې د خلکو باور په علم، دولتي مقاماتو او رسنیو باندې ډېر کړئ او لا اوس هم وخت شته چې باید عملي شي. مونږ قطعآ باید له نوې فني ټکنالوژۍ څخه ګټه واخلو، اما دغه فني ټکنالوژۍ باید د ښار وګړو کې په وړتیا جوړونکې باندې پای ومومي. یقینآ زه د څارنې پلوی یم چې باید د بدن تودوخه او د وینې فشار پرې چک شي، اما ددغو شته امکاناتو په درلودلو سره د یو زبر ځواک دولت په توګه ترېنه ګټه وانه خیستل شي. بلکې، دغه شته ورکړې ما وتوانوي چې تر څو ځانګړې ټاکنې د پوهاوي په برخه کې ولرم او همدارنګه د دولت پرېکړو ته د ځواب ویلو توان مونږ کې وي.

که زه وکولی شم چې د ۲۴ ګړیو په لړ کې د خپل روغتیا کنټرول کړم، نه یوازې زه دا زده کوم چې کومه پېښه د نورو روغتیا ته ورسوم بلکې کولی شم د خپل روغتیا ته هم مرسته او هم ګټور تمام شم. که ما کولی شوی چې د کرونا ویروس سر چینو ته مې لاس رسی پیدا کړې وای او هغه مې د تحلیل لاندې نېولې وای. کولی شم چې قضاوت وکړم، آیا دولت ما ته حقیقت وایي، آیا سیاستونه په سمه توګه د اپیډمي په مقابل کې ټاکل شوي یا خیر؟ هر کله چې خلک د څارنې په اړه ګړېږي، نو په یاد ولرئ چې همدغه د څارنې فني ټکنالوژي معمولآ نه یوازې د دولت له خوا د وګړو په څارنې باندې قرار ولري ـ بلکې د وګړو له لورې د دولتونو دې څارنې لپاره هم باید ګټه ترې واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دې بنا، د کرونا ویروس اپیډمي یو عمده آزمایښت د ښار وګړو لپاره ده. د راتلونکې ورځو لپاره، زمونږ له هر یو څخه به د علمي په ورکړو او د روغتیا له کارپوهانو څخه پرته هغه بې اساسه تیوري او د خودخواهو سیاست مدرانو باندې به باور کوو. که نه شو کولی چې سمه ټاکنه وکړو، نو د خپل روغتیا د ساتنې په ځای، شونې ده، چې با ارزښته آزادي له لاسه ورکړو.

**.موږ یو نړۍ وال پلان ته اړتیا لرو:**

دویمه مهمه ټاکنه چې مونږ له هغه سره مخامخ یو، هغه د ناسیونالیستي ګوښه ګیري او نړې والې اړیکې دي. خپله اپیډمي او د اقتصادي کړکېچونو اغېزمنېدل له نړۍ والو ستونزو څخه اوسېږي، چې یوازې د نړۍ والې همکارۍ په مرسته حل کېدونکې ده.

له ټولو څخه مهمه دا ده، چې د یروس دې ماتې ورکولو لپاره باید په نړۍ والې کچې سره مالومات شریک کړو. چې ددغو انساني اړیکو فضلیت د ویروس دې ماتې پر وړاندې دی. دوه ډوله ویروس؛ چې یو یې په چین او بل یې په متحده ایالاتو کې شتون لري او نه شي کولی چې د انسانانو دې اخته کېدو په اړه مهمه ټکي شریک کړي. اما امریکا کولی شي چې ډېر ارزښتمند څېزونه د کرونا ویروس په څرنګوالي او د هغه د مبارزې په څومره والي کې له چین څخه زده کړي. هغه څه چې یو ایټالیایي ډاکټر د لومړي سهار په لړ کې کشف کوي، چې کولی شي د راتلونکې لپاره د بې شمېره انسانانو ځانونه په تهران کې وژغوري. کله چې انګلیس دولت د څو سیاستونو په منځ کې د کرونا ویروس د مبارزې په چاپېریال کې ګوته په غاښ پاتې شوي، خو کولی شي چې د کوریایانو څخه مشوره واخلي چې څو میاشتې مخکې د همداسې ستونزمندې پېښې سره مخامخ شوې ول، نو انګلیس دولت کولی شي چې د یاد شوي هېوادونو له تجربو څخه دې ګټه پورته کړي. اما ددغې ریښتونې په امر، اړتیا لیدل کېږي چې باور او د همکارۍ نړۍ واله روحیه نرمل وساتو.

هېوادونه باید اړ وي چې مالوماتونه په ښکاره ډول شریک کړي او لېوال د مشورو په لورې وي او د ورکړې او لیدلورې څخه څه چې لاسته راوړي، باید باور

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې وکړي. همدارنګه مونږ هم د رامنځته کولو او د صحي توکو په وېشلو باندې یو نړۍ والې هڅې ته اړتیا لرو چې مهمترین د هغوی څخه د آزمایښت کڅوړه (تست کیټونه) او د ساه اخیستنې ځانګې دي. ددې په ځای چې هر هېواد کوښښ وکړي چې دغه کړنه د محلونو په کچه باندې ولري، نو یو نړۍ واله کوښښ او هماهنګتیا کولی شي چې پنځونو ته تېزښت ورکړي او د ژغورنې توکي په عادلانه ډول ټولو ته ووېشل شي. سم لکه هغه هېوادونو غوندې چې د صنایعې جګړې په دوام کې کلیدي توکي، ملي کوي. د بشر جګړه د کرونا ویروس پر وړاندې شونې ده چې مونږه اړ کړي چې د «انسان جوړونې» مهمه کړښه را وپنځوه ؤ. که یو موږ (مالداره) هېواد چې په کرونا باندې د اخته شوي کسانو کمې پېښې ولري نو باید اړ وي چې د روغتیا لوړې توکي یو فقیر او هغه هېواد ته ولېږدوي چې هغلته پېښې ډېرې وي، نو ددغه باور پر وړاندې همغه موږ هېواد د راتلونکې لپاره که مرستې ته اړتیا پیدا کړي نو ډېری هېوادونه د مرستې لپاره ورته ولاړ وي.

شونې ده، چې مونږ هم د یو نړۍ والې هڅې غوندې چې د صحي پرسونلو په راټولونې کې نظر لاندې ونیسو. هغه هېوادونه چې په حاضر حال کې کم له ویروس څخه اغېزمند شوي، نو کولی شي چې د خپل صحي پرسونلونه د مرستې په ډول هغه هېوادونو ته ولېږدوي چې ډېر ترې اغېزمند شوي ښکاري. دغه امر کولی شي هغوی ته د مرستې په منظور اووسي خو له دې سره به ارزښتمندې تجربې لاسته راوړي. د کرونا ویروس اپیډمي نایل کېدل په هغه صورت کې چې کمې ساحې ترې اغېزمند شوي دي او شونې ده، چې ددغه انځور کړنه د همکارۍ په توګه ومنل شي.

د نړۍ والې همکارۍ د اقتصادي په ځانګو کې ډېره حیاتي برخه ده. په توجو دې نړۍ وال اقتصادي ماهیت او د پنځونې زنځیرونه؛ که هر دولت د خپل کار په بشپړه ناسمه توګه پای ته ورسوي نو د هغه نتیجه به د هرج مرج او د لوی کړکېچونو رامنځته کېدل به وي. مونږ یو نړۍ والې برنامې ته اړتیا لرو چې باید عملي شي او همدارنګه په چټکه توګه ورته نیاز لرو.

بله د اړتیا لاسته راوړنه د نړۍ والو سفرونو په اړوند دي. د ټولو بین المللي سفرونو شا تګ د میاشتو مودو لپاره لویه ستونزه د خپل په لمن کې درلودلی شي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرونا ویروس د جګړې او د منع کېدو په پار به وي. هېوادونه باید مرسته وکړي چې حد اقل هغه مهمه مسافرین لکه: پوهنملان، روغپوهان، د ورځ پاڼې کارپوهان، سیاست مداران او سوداګریز پوهان وشي کولی چې له مرزه راتېر شي.
دغه امر کولی شي چې د نړۍ والې لاسلیک په مرسته چې مخکې د مسافرینو په اړه لاسته راغلی وو په خپل هېواد کې پرې آزمایښت شي. که پوهېږئ چې یوازې مسافرین په دقت سره ارزول کېږي، نو تاسو به ډېره لېوالتیا د خپل هېواد دې منلو لپاره وښیئ.
بدبختانه، په حاضر حال کې هېڅ کوم هېوادونه له دغو کارونو څخه یو یې هم نه ترسره کوي. نړۍ واله ټولنه په ډلیزه توګه د فلجېدو خواته ده. په نظر رسېږي چې هېڅ مشر په خونه کې شتون نه لري. انتظار کېده چې څو اونۍ مخکې د هېوادونو رهبرانو له خوا د G7 اضطراري غونډه د یوې ګډې برنامې لپاره عملي او سمه چمتو شوې وای، خو دغه رهبران یوازې وتوانېدل چې په دغه اونۍ کې یو ویډیو کنفرانس ترتیب کړي چې په لړ کې هېڅ نتیجه یې نه درلوده.
دمخه له نړۍ والې کړکېچونو څخه یادونه وشوه ـ لکه د ۲۰۰۸ع کال د مالي کړکېچونه او د اېبولا اپیډمي په ۲۰۱۴ع کال کې چې متحده ایالاتو نړۍ واله رهبري یې په لاس درلوده. اما اوسنی دولت یانې متحده ایالات چې د رهبرۍ څخه ها خوا شوی او په ښکاره ډول یې وښوده چې د امریکا عظمت ډېر ارزښتمنده ده، د بشریت له راتلونکې نه!
حتی نوموړې ادارې د خپل ژمن کسان یې خوشې کړي، ځکه د خپل ځان ته یې دومره ستونزه ونه لوروله، یانې د اروپا له بهیرونو سره مخکې له هغه چې ټول سفرونه یې د امریکا له بهیرونو سره بند شي، هېڅ څه یې په جریان کې پرېښښودل او نړۍ وال اصول یې مات کړل ـ اوس څه اړینه برېښي! چې د اروپا له بهیرونو سره د مبارزې د چمتوالي په اړه مشورې وکړي ـ نوموړې ادارې د یو میلیارد ډالرې وړاندیز یې د درمل جوړونې یو شرکت ته ومنل چې تر څو د COVID- 19 واکسین جوړېدنه په انحصار کې راولي، چې دغه کار غټه رسوایي یې په اوږدو کې درلوده. حتی که اوسنی دولت تر پایې کچې پورې کوم بدلون لاسته راوړي او یو نړۍ واله خپوروونه ورته چمتو کړي، خو په کمه توګه وکړي به له رهبرۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیروي وکړي، چې هېڅکله مسوولیتونه به په غاړه وانخلي او هر څوک به په هېڅ ډول په خپلو اشتباهګانو باندې اقرار ونه کړي او پرله پسې ټول باورونه د خپل ځان ته اخلي او ټولو ته پېغور او ملامتیا ورکوي، چې په دې سره امریکا زبر ځواک بلل کېږي.

که دې ایالاتو متحدې ځای په نورو هېوادونو باندې ډک نه شي، نه یوازې چې د اوسني اپیډمي جریان دروول کېږي بلکې نوموړې پروسه به ډېره ستونزمنده پای ته ورسېږي او همدارنګه د هغه میراث به د بین المللي اړیکو کې د نورو کالونو لپاره زهرجن کړي او دا به همداسې دوام مومي.

په دې حال سره، هر کړکېچ یو فرصت دی. مونږ باید هیله مند اووسو چې اوسنی ټول نړیوال ناروغۍ بشر به د پاتې خطر او د یووالي له ټکر سره مخامخ کړي. بشریت باید یوه ټاکنه وکړي. آیا مونږ د بې اتفاقۍ په لور به لاړ شو یا نړۍ واله اړیکه طی کوو؟ فرض کوو، که بې اتفاقي وټاکو، دا نه یوازې کړکېچونه دوامداره کوي بلکې نا را بلل شوې فاجعهٔ به د راتلونکو لپاره نور هم بد له بدتره کړي. که نړۍ والې اړیکې وټاکو، دغه بریا نه یوازې د کرونا ویروس پر وړاندې به وي، بلکې د ټول نړیوالې ناروغیو او کړکېچونو پر وړاندې شونې ده، چې د یوویشتمې پېړۍ لپاره د انسانانو برید وي، چې پېښ به شي. (یووال نوح هراري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وینډوز**

له کمپیوټر څخه ډېره ګټه اخیستنه سبب کېږي چې ویروسونو ته لاره پیدا کړي او مونږ اړ یو چې د ویروس د مخنوي لپاره په میاشت کې یو ځل خپل کمپیوټر باید وینډوز کړو او همدارنګه وروسته له وینډوز څخه خپل کمپیوټر له ناوړو شیزونو څخه لرې وساتو تر څو د ویروس له امله کمپیوټر مو له فلج کېدو سره مخامخ نه شي. همدا راز اوسنۍ نړۍ ته د کرونا ویروس پیدایښت او د هغه څرګونه د ناوړو کارونو او د ناپاکۍ سبب کېږي چې په اوس مهال کې کرونا ویروس ډېره پراختیا موندلې ده. د کرونا ویروس لېږد د ناپامۍ علت بلل کېږي ځکه که مونږ علم باندې باور درلودی او د اسلام طب ته مو مراجعه کړې وی نو خبره تر دې دمه نه رسیده. که مونږه د تېرو فرهنګونو شالید ته وګورو نو د هغوی تجربې تر مونږه راپاتې شوي چې بیا موږ ترې د ژوند په چارو کې ګټه ترې اخیستې ده. متلب مې ددې خبر دا وو که مونږ د اسلام مطالعې ته مخه وکړو نو د وبا (طاعون) ناروغۍ لپاره بشپړ بحث ترسره شوی او دا د قرنطین توصیه هم لویه مخینه لري، د کرونا ویروس کټ مټ د وبا ناروغۍ غوندې شباهت لري او د لېږد خپرېدل یې هم له ژیو څخه بلل کېږي نو مونږ باید د تېرو له تاریخ څخه تجربه واخلو او د نوموړي ویروس د مخنوي لپاره د اسلام له تجربو او لارښوونو څخه ګټه پورته کړو. محمد کریم ادیب د اسلام په اړوند ډېر شیزونه لیکي دي او د خپل په یوه مقاله کې په نامه دې (الهي کرونا ویروس نړۍ یې په چغو راوسته) لیکي: ددغه ویروس حکمت په دې کې دی چې بشریت پوه شي او د خپل له ګناهونو څخه مخ واړوي. نو د کمپیوټر د ویروس لپاره وینډوز سبېږي درمل بلل کېږي او کمپیوټر له ټولو ویروسونو څخه ژغوري نو د کرونا ویروس وینډوز لپاره مونږ د خپل وجود باید د اسلام له خلافه لرې کړو او بدن مو د عبادت او ذکر وینډوز باندې پاک کړو تر څو چې د الهي آفت څخه په آمان کې اووسو. په پای کې به د ادیب صیب له مقالې څخه یوازې د نوموړي ویروس حکمت بحث به راواخلم.

۱ـ د ناروغیو د پیدایښت حکمت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی بېلابېلې ناروغۍ د ازل له ورځې څخه جوړې کړې او پیدا کړې یې دي. د هغه د پیدایښت اساسي حکمت؛ اخته کېدل، آزمایښت او د بشر د عبرت لپاره او دغه عبرت دوه بُعد لرونکې دي.

**الف) وعیدي بُعد:**

د وعیدي له ځانګې څخه دا مراد دی چې الله تعالی د سرغړونو بنده ګانو پوهاوي لپاره بېلابېل ناروغۍ نازلوي او په همدې ترتیب له بدو اعمالو څخه متوجو کېدل دي تر څو ظلم، وحشت او جهالت باندې پوهوه شي. چې دغه ډول عبرت نړۍ وال کفر او الحاد موضوع را چاپېروي.

**ب) اندازي بُعد:**

د اندازي بُعد څخه متلب دا دی چې الله تعالی د خپل مؤمن او مسلمان بنده ګان د خپل په کړنو باندې متوجې کړي تر څو د ګناهونو او معصیت څخه لاس په سر شي او د الهي له آوامرو څخه سرغړونه ونه کړي. چې دغه ډول عبرت د نړۍ والې اسلام شمول کې وي. بنآ د کرونا ویروس د عبرت نتیجه دواړو نړۍ (کفر او اسلام) لپاره دی ځکه د کفر نړۍ بې له خدایه ژوند په سر تېرول دي او د اسلام نړۍ د بې عملي ورځ او شپه تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وبا (طاعون) ناروغي**

اسامه بن زید (رض) وايي: چې رسول الله (ص) فرمايلي: دغه طاعون ناروغي عذاب دی چې مخکې امتونه پرې اخته شوي وو او وروسته هغه ناروغي په ځمکه پاتې شوه. کله له منځه ځي او کله هم ښکاره کېږي. لذا هر چا چې واورېدل په یوه ځمکه کې طاعون شتون لري، نو هلته دې لاړ نه شي او که هغه ځمکې ته ور درومي نو د طاعون ناروغي پراختيا مومي او له هغه ځايه بايد تېښته وکړئ.

**.د طاعون پېښه د حضرت عمر (رض) په خلافت کې؛**

عبدالله بن عباس (رض) وايي: چې عمر بن خطاب (رض) شام خواته رهې شو. څو شپې ووتې چې د شام نژدې د سرغ یوې کلي ده ورسېده او هغلته د شام مسلمانانو، فسلطين، اردن، دمشق، حمص او قنصرين يانې د ابو عبيده بن جراح او ملګريو سره يې ليدنه وکړه. هغوی نورو ته خبر ورکړ چې په شام کې طاعون ناروغي پراختيا موندلې ده.

عمر بن خطاب (رض) وويل: چې لومړي مهاجرين را وغواړئ.

راوي وايي: چې ما هغوی راوغوښتل.

عمر بن خطاب هغوی سره مشوره وکړه او خبراوی يې ورکړ چې طاعون ناروغي په شام کې پراختيا موندلې ده. هغوی يو بل سره جوړ جاړی ونه ښوده. ډلګی وويل: تاسو د یو ټاکلي ماموريت په لور راغلي يې او موږ باورمند يو چې د هغه په ترسره کولو بېرته نه ځئ.

نورو ډلګيو ورته په ډاګه کړه: غټ شخصيت او د رسول الله (ص) صحابيان هم له تاسو سره دي؛ موږ فکر کوو چې نه بايد هغوی د طاعون په خوله کې واچوئ.

عمر وويل: زما له څنګ څخه بهر لاړ شئ! او وروسته يې وويل: انصار راوغواړئ. ما انصار قبيله راوغوښتله. له هغوی څخه هم مشوره واخيسته. خو هغوی هم لکه مهاجرينو غوندې جوړ جاړی يې ونه ښوده. عمر وويل: زما له څنګه بهر ووځئ! وروسته له هغه يې وويل: قريش شيوخ يانې همغه د فتحې مهاجرين راوغواړئ. رواي وايي چې ما هغوی راوغوښتل او هغوی د عمر (رض) خبرې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند جوړ جاړی وښوده او یوه خبره یې وکړه چې زمونږه رایه دا ده چې خلک باید راوګرځوو او د طاعون ناروغۍ په خوله یې ور نه کړو. همدا وو چې عمر (رض) د خلکو په منځ کې اعلان وکړ چې د سبا په سحر باندې زه په خره باندې سپرېږم او مسافرېږم نو تاسو هم چمتو اووسئ. په همدې وخت کې، ابو عبیده بن جراح حضرت عمر ته یې وویل: آیا د الله تعالی له تقدیره تېښته کوو؟

عمر(رض) وویل: ای ابو عبیده کاش چې تا دا خبره کړې نه وای او بل چا دا خبره راته په ژبې راوستې وی.

ویل کېږي چې عمر (رض) خوښمند نه وو چې ابو عبیده سره مخالفت وښیي.

هو! د الله تعالی له تقدیر څخه بېرته د الله تعالی د تقدیر په لور ور درومو. فرض کوو، که دې ستا اوښان یوې درې ته دننه شي چې دوه څانګه ولري، یانې یوه څانګه یې شنه له وښو څخه او بله یې وچه ډاګه او بې له وښو څخه وي. نو دا ده که تا د خپل اوښان د شنو څانګې په لور وځرول نو دا د اللهی په تقدیر ځرولي دي او که تا د وچو په څانګو کې وځرول بیا هم تا د اللهی په تقدیر ځرولي دي. په همدې اثنا کې عبدالرحمان بن عوف بیرون د یو کار د ترسره په پار وتلی وو او مخکې یې حضور نه درلوده، راغی او وویل: اورېدلي مې دي چې رسول (ص) فرمایلي: هر کله مو چې واورېدل په یوه ځمکه کې طاعون شتون لري، نو هغلته لاړ نه شئ او که هغه ځمکې ته ور درومئ نو د طاعون ناروغۍ پراختیا مومي او له هغه ځایه باید تېښته وکړئ.

په پای کې روایې وایي: چې عمر بن خطاب (رض) وروسته ددې حدیث په اورېدو سره د الله تعالی حمد او ثنا یې وویل او بېرته راوګرځېد.

ـ عمر بن عاص (رض) د طاعون ناروغۍ په وخت کې د عمواس فلسطین وګړو ته وویل: چې وبا اور دی او تاسو د هغه وچ لرګي بلل کېږئ نو له یو بل څخه واټن واخلئ تر هغو چې دغه اور د سوځېدو لپاره څه ونه مومي او د هغه لمبه همداسې مړه پاتې شي.

ـ همدارنګه حضرت بي بي عائشه (رض) وایي: چې ما د طاعون په اړوند له رسول الله (ص) څخه وپوښتل او هغه په ځواب کې راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاعون همغه الهي عذاب دی چې پر کومو کسانو الله تعالی غواړي نو ور استوي يې او ياده ناروغۍ الله تعالی د مؤمنانو رحمت لپاره يې قرار کړې ده. هر څوک چې د طاعون ناپاکې چاپېريال څخه اخته شي نو بايد د خپل ښار کې پاتې شي، صبر وکړي او د هليه منديو په پاداش کې اووسي او يقين ولري، هغه څه چې د الله تعالی په لوري ورته ورکړل شوي وي بل څه نه رسي، ياني هغه کس ته د شهيد پاداش ورکول کېږي.

**.نو اوس**

د وبا (طاعون) ناروغۍ پيدايښت او څرګونه له اوښ څخه بلل کېږي چې بيا انسانانو ته لېږدول شوی دی، نو اوس مونږ بايد د تېرو له تجربو څخه ګټه پورته کړو او څه چې ويل شوي بايد عمل پرې وکړو. قرنطين، په کور کې ناسته او نورې وقايوي لارښوونې د حضرت عمر (رض) له وخت څخه مونږ ته راپاتې دي او رسول الله (ص) ويلي دي چې وبا ناروغۍ به په ځمکه پاتې کېږي، کله به له منځه ځي او کله به ښکاره کېږي او داسې هم ويل شوي دي چې کرونا ويروس همغه وبا (طاعون) ناروغۍ ده ځکه د لېږد، نښې او لارښوونې يې کټ مټ يو شان بلل کېږي. خو اوس د لاس ورکړه او د ډلېز لمونځ تر يو محدود وخته پورې ولې ځنډول کېږي؟ ځکه د وبا ناروغۍ په لارښوونو کې راغلي چې له يو بل څخه لرې پاتې شئ او طاعون ناروغۍ اور غوندې بلل کېږي او د اور ځانګړتيا همدا ده چې يو وچ لرګی وسوځي نو ټول وچ لرګي ورسره اور اخلي او د کرونا ځانګړتيا هم همدا شان بلل کېږي. د لاس ورکړه يو اسلامي سنت بلل کېږي خو د ضرورت په وخت کې بايد تر يو محدوديته پورې ترې ډډه وکړو ځکه د اسلام خوږ پيغمبر خپله ويلي دي: چې په هغه ځای کې د طاعون ناروغۍ څرګونه ليدل کېږي نو تاسو د هغې ځای له تګ څخه ډډه وکړئ او حضرت عمر بن عاص (رض) ويلي دي چې د يو بل څخه واټن واخلئ ځکه بيا دا اور د سوځېدو لپاره څه نه پيدا کوي، چې وې سوځوي او همداسې له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لاس ورکړې او د جومات تللو حکم

**.د لاس ورکړې حکم:**

واټن د ټولنیزو کړنو په اړوند یو له هغو محدودیتونو او څارملنو څخه شمېرل کېږي چې د ټولنې په وګړو کې تر یو حده پورې عملي شوې ده. د واټن اخیستلو مسئله له یو بل څخه یا د ټولنې څخه د واټن نېولو بحث مخکې په قرنطین ځانګه جوته شوه، چې د کرونا ویروس دې مخنوي په پار باید تر محدود وخته پورې منع شي او دا نه یوازې ادب بلل کېږي بلکې د هغه ترک کول هم واجب دی ځکه دلته بیا د ځان ساتنې بحث مخې ته راځي چې ددې په اړوند ابن حجر عسقلاني داسې لیکي:

د تېښتې امر له هغه کس څخه چې په جذام ناروغۍ باندې اخته وي، د ناروغۍ لېږد نه دی بلکې دا یو طبیعي امر بلل کېږي، چې د ناورغۍ لېږد له یو انسان څخه بل انسان ته د لاس ورکړې، روغبړ او د خولې په بوی باندې ترسره کېږي، همدارنګه ډېری ناروغۍ په همدې لارو چارو باندې د اخته شوي کس نه روغ کس لېږد مومي.

نو د لنډې مودې لپاره د خپل او د ټولنې وګړو ساتلو لپاره او د خپل روغتیا په پار له یو بل څخه واټن واخلئ، په عین حال واټن په عمومي مراکزو کې، عمومي حمل و نقل، ښاري سرویسونو او د ښار و بازار نور ځیزونو څخه؛ همدارنګه د لاس ورکړې، روغبړ، ښکلوول او د واټن اخیستنې حدود په یو سانتي متر کې او د روغپوهانو توصیې ته د نوموړې ناورغۍ په پار باید جدي اقدام وګڼل شي. چې دغه اورېدونکې ځیزونه د اسلام په شریعت باندې ولاړ دي.

**.د جومات د نه تللو حکم:**

د جومات تړلو حکم له هغو اساسي مسائلو څخه شمېرل کېږي چې د کرونا ویروس خپرېدو ته ګواښوونکې دي. د ټولې نړۍ دانشمندانو مختلفه نظریې د یاد بحث په اړوند اخیستل شوي دي، چې ځینو دا کړنه جائز ګڼلې ده چې باید عملاً جومات وتړل شي او ځینو دا کار جائز ګڼلی نه ده او تأکید یې کړی چې باید د جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه د لمانځه لپاره خلاصه پرېښودل شي. ددې موضوع په اړوند نظريات ډېر دی چې شايد په يوې بحث باندې يو کتاب وپسولل شي خو دلته لازم ګڼل کېږي چې دې بحث په مطابق يو دوه نظريې رانقل کړم:

ـ آسمان او ځمکه او هغه څېزونه چې د آسمان او ځمکې په منځ کې اوسېږي، الله تعالی پيدا کړي، همدارنګه ناروغی هم د الله تعالی په مخلوقاتو کې شمېرل کېږي، د مخلوقاتو واک او قدرت ټول د الله تعالی په لاس کې ده، مونږ يقين لرو چې هېڅ کوم څېز د الله تعالی بې له ارادې او غوښتنې څخه اثر نه لري، په ناروغيو کې هم که د الله تعالی غوښتنه او اراده نه وي نو هېڅکله اثر او اغېز کولی نه شي.

ـ د جمعې او جماعت په مسئلې کې دوه ډوله پدېدې شتون لري، چې بايد له يو بل څخه بېل شي، يو د جمعې او جماعت اقامه ده او بل د جمعې او جماعت لپاره شهود او حاضرېدل دي، د حاضرېدلو مسئله په جمعۀ او جماعت کې غير دې جمعۀ او جماعت له اقامې څخه وي. کله چې جمعۀ او جماعت وي، ولې شهود او حضور نه شي کولی چې اووسي، پس په دې عذر سره جمعۀ او جماعت بايد وځنډول شي، لکه: د بند خونې وګړو غوندې چې نه شي کولی د جمعې او جماعت لپاره بهر راووځي نو جمعۀ او جماعت ددوی لپاره ساقط ګڼل کېږي او همدارنګه ناورغه وګړي هم نه شي کوی چې حاضر شي، نو ددوی لپاره هم ساقط شمېرل کېږي، د ماسپښين لمونځ په انفرادي توګه په کور او بند خونې کې وايي او د قيقآ لکه اصحاب القري(د کلي خلکو) غوندې چې پر هغوی باندې جمعۀ لازم نه ګڼل کېږي، نو جمعۀ ساقط او د ماسپښين لمونځ په جماعت باندې کوي.

ـ د اسلامي امت فقهاوو د قرآن او سنت پر اساس يو سلسله عذرونه شمېرلي دي او هغه سبب ددې کېږي چې د جمعې او جماعاتو کې حضور پيدا نه شي او بلآخره د ځنډېدلو لامل کېږي. يو له هغو عذرونو څخه د وېرې شتون پر وګړو باندې ګڼل کېږي او وېره هم عامه وي. زمونږ د وګړو د وېرې مسئله د کرونا ناورغی يا قرنطينيه اوسېږي چې بيا دا مسئله په دوه ډوله څېړل کېږي.

لومړی بڼه: هغه کسان چې په ناروغی باندې اخته وي او وېره لري، که بهر ووځي، نور ترې اغېزمند او اخته کېږي، چې شرعآ او عقلآ دغه وېره د نه وتلو شتون سم ګڼل کېږي او د جمعۀ او جماعات عذر منل کېږي، ځکه د پرمختللي علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باب ثابتېږي چې نوموړې ناروغۍ ساري ګڼل شوې او د اخته شوي کس په وتلو باندې نور وګړي اخته کېږي.

دویمه بڼه: روغ او رمټ وګړي دي چې د وېرې په پار څارملنه اختیار کړې تر څو په یاده ناروغۍ باندې اخته نه شي او د پراختیا لامل ونه ګرځي په همدې دلیل له کورونو څخه بهر نه راوځي، ځکه که بهر را ووځي نو د لمونځ ویونکو، جمعۀ او جماعات کې په ویروس باندې اخته نه شي. دغه وېره هم یو عذر ګڼل کېږي چې شرعیت او عقل دا کړنه نه منعه کوي، دقیقاً لکه هغه کسانو غوندې چې د انساني دښمنۍ څخه په وېرې کې وي، چې مبادا په لاره کې څوک هغه ونه وژني نو د جمعۀ او جماعات لپاره بهر نه رادرومي، فقهاوو دغه وېره د یاد کس لپاره عذر ګڼلې ده او د عذر مسئله د نفس وېرې پورې مربوطېږي، نه د هغې بڼې پورې او د نفس وېره د فرض جمعۀ او جماعاتو لپاره اثر مومي.

نو په دې حالت کې وېره او ناروغۍ په ډلیزه توګه د وګړو حاضرېدل په جومات کې د جمعۀ او جماعاتو لپاره عذر دی، که وګړي حضور ومومي نو په دې اظطراري حالت کې لازم ګڼل کېږي چې په کور کې پاتې شي او لمونځ وکړي او د جوماتونو ځنډول او وتړل باید شي، دغه ځنډول شرعاً کوم خنډ نه جوړوي بلکې د شریعت په توګه دا وځنډول رخصتي ګڼل کېږي.

له دومره بحثونو څخه وروسته اوس هم وګړي په غفلت کې اوسېږي او په اړوند ناغېړیو باندې پټاوي خبرې کوي او که کتابي خبرو ته غوږ کېدو یا یې هم ولولو نو امام شافعي رح وايي: خلک له دوه ځیزونو څخه ډېر په غفلت کې دي، لومړی: د طب علومو څخه او دویم د نجوم علومو له ډالۍ نه بې برخې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کرونا وړې ذرې او الهي عذاب

د کرونا الهي عذاب؛ لومړي څرګونه د چین هېواد له ووهان ښار څخه پراختیا پیل کړه، چې دې ووهان ښار په یوه سیمه کې د بهرونو هر ډول کبان خرسېدل او په یاد ځای کې کبان په ژوندي توګه خوړل کېدل نو بنآ د کبانو په هټیو کې د کرونا ویروس څخه درې کسه اخته شول چې د څو میاشتو په لړ کې د کرونا وړو ذرو د نړۍ وګړي لکه توت غوندې پر ځمکه راوغورځول او ډېر وګړي ترې متآثره شول. د کرونا وړو ذرو د نړۍ پرمختللي ټکنالوژۍ یې پر ګونډو راوسته او له وګړو نه سېوا د فضا سیارې او کمپیوټري ماشینونه ترې متآثره شوي ښکاري. په معاصره دوره کې د نړۍ ټول نظام، طبابت او زېرځواکونه د ټکنالوژۍ پر مټ باندې ټړلي او پر مخ روان شوي دي خو اوس داسې نه برېښي، ځکه د کرونا وړې ذرو ته لا تر اوسه پورې داسې درمل میندل شوی نه ده چې د مخنوي لپاره ورسره مبارزه وکړي. د کرونا ویروس پیدایښت د الهي عذابو یوه نمونه بلل کېږي چې د کفارو د خدايي بغاوت او د حدودو سرښندنې لپاره او همدارنګه د مسلمانانو د ګناهونو اعمالو لپاره دنیاوي یو عذاب بلل کېږي. دا چې په اسلامي هېوادونو کې د کرونا اغېزې لیدل کېږي دا د مسلمانانو د ضعیفو عقیدو استازیتوب کوي او ددې ناروغۍ حکمت د مسلمانانو د ضعیفو عقیدو متوجې کول دي او د کفارو د ځواکونو ختمېدو او ددغه پاینټ متوجې کول دي چې نن د ټولو نړۍ حقیقي پادشاه څوک دی! او ددې نړۍ واک د چا په لاس کې دی. د کرونا کرغېړنې یو الهي عذاب دی نه کوم د هېوادونو او زېرځواکونو اقتصادي جګړه ده، ځینې وګړي په دې آند دي چې کرونا د امریکا یا هم د چین جوړ شوې ناروغۍ ده چې تر څو د واکمنۍ او اقتصادي زیانونه یو تر بله رسوي خو اوس په کره توګه څرګنده کېږي چې د کرونا الهي عذاب څخه دواړه هېوادونه څنګه پایمال شوي دي او ورځ تر بلې لکه توت غوندې پر ځکه پرېوځي. په قرآن او په حدیث باندې ثابته خبره ده چې د آخرت په ورځ باندې پلار له زویه او مور له لور څخه تېښته کوي او هر څوک به د خپل د اعمالو پسې پلي وي او نن د همدې ورځې لیدونکي یاستو او هغه هېوادونه چې د نړۍ په کچه باندې حکمراني کوله خو اوس انزواء خوا ته رهې ښکاري او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونه چې د ټکنالوژۍ په ځواک باندې به یې ویل چې (انَّا) یانې زه یم په نړۍ کې او هېڅوک له موږ څخه ځواکمن نه ښکاري خو اوس څرګنده شوه چې واقعآ واحدة القهار کوم پادشاه دی...

نو د کرونا له آفته هغه کسان په آمان کې وي چې سپېڅلې عقیده ولري او واحدة القهار ذات ته د زړه په سترګو وګوري نو درنو مسلمانانو د الله تعالی له درباره عبادت مه هېروئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شنبه ـ ۲۰۲۰ ـ د مارچ ۱۴مه**

معمولاً د لمر دې ګرمو ورځو په پیل او دې اونۍ په پای کې زموږ ښار(هایدلبرګ) د خوښي له شرا شور نه پوښل او د ځړوبو موسکا په کې خوره وي. هر څوک له هر چا سره په عام عبارت (د سترګو جنګ) کوي. هره کورنۍ له ماشومانو سره یې اکثره وخت ژوبڼ ته ځي چې زما له کاله سره نژدې موقعیت لري. تقریباً دېرس سلنه د ښار ودانۍ زده کړیالان تشکیلوي، کتابونه یې په بغلو کې د دریاب په ژۍ باندې چې د ښار له منځه تېرېږي د خپل منځو کې خبرې او ساتېریانې کوي.

اما نن حالت بدل شوی!

که دلته د هالیود ژبه وکاره ؤ، نو چاپېریال لکه د (ای ایم لجند) د فلم ورته والی د خپل ځان ته اخلي، کوڅې بوړنونکې شي، د اکثرو هتۍ ګانو په مخ کې جولا ځالي جوړ کړي وي، هغه حس چې ددې ښار په فضا کې ځای شوی ده، چې ما د هېواد نویمې لسزې میلادي خیالونو ته بوځي؛ څه حالت وو چې موږ ترې را تېر شولو!

زړور او غیرتي سړی هغه کس نه ګڼل کېده چې ټوپک یې ډک او چانټې کې یې کم له کمه آته شاجوره چې ۳۱ ګولۍ لري، یانې کم او زیات ۲۴۰ کسانو وژلو ته بسنه کوله. او بیا د ښار زدني او کاکه هغه کس بالل کېدای شي چې لس نور داسې کسان یې لاس په ماشه په تعقیب کې وي. ها وخت وو چې کومه ستونزه به د بې مسؤلیتو خلکو او د احزابو په منځ کې ترسره کېدله، نو په ښارونو کې بیا د خاموشۍ او د وېرې سېلۍ په چټکۍ سره لکه د پسرلي د وربځو په څېر خورېدل.

بیا به په اونیو کې تیل عیلیکین ته او بوره به د روسي ګیلاس ته نه میسر کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما اوسینی هایدلبرګ هم د ها تېرې وطني زماني ته ورته والی ډېر لري. ځیني مواد په هټۍ ګانو کې د ډېربښت له ورځو نه را په دې خوا کم میندل کېږي. تشناب کاغذ، اولیه مواد، او امثال الهم له هغو څیزونو څخه دي چې اخلاقآ په وهلو او ټکولو کې قرار لري. بلآخره دا باعث شول چې په ځینو مراکزوکې خرڅلاوی او پلورل د اخېستونکو پرغوښتونو محدودیت وضع کړي.

کله چې مونږ له کوره بهر را وځو، د ټوپک پر ځای د ضد عفوني مواد یا مطهر مواد په جیب کې را اخلو، د اوږو په سر چانټه نه شته، بلکې پر ځای مو طبیعي دور بینونه نصب کړي، تر څو مشکوک او په کرونا اخته شوي کسان څارملنې لاندې ونیسو. هر چا سره چې مخامخ کېږو نو یو بل ته په مشکوکو سترګو ګورو. لکه څرنګه چې پخواني خلکو ویلي (لاس په ماشه) ګرځو. اما دغه مرتد مرض هر څیز یې خاورې په خاورو کړی.

شک او همدارنګه د ځان پاملرنې مسؤلیت خپل د اوج اندازه یې طی کړې ده، داسې چې د هر انسان روان ترې بې حده اغېزمند شوی. نه د لاس ورکړه شته او نه په غېږ کې نېول. نه مخامخ خبرې شته او نه کوم ناسته پاسته.

موږ د وخت او د دغه ناوړې پدیدې ښه والې ته سترګې په لاره یو!

محلونه چې تر اوسه پورې په دغه آفت اخته شوي نه دي نو هرو مرو دې د نورو له تجربو او د هغوی له غفلت څخه دې زده کړه وکړي او همدا راز دغه د ټولو انساني او اسلامي مسؤلیت دی چې ترسو ددې د مخنیوي او محدود کولو لپاره، مونږ باید یو بل سره اوږه اوږه په مخه ولاړ شو!! (وحید وطنیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژوند جدي وګڼئ!**

زمونږه فرهنګ په مهربانۍ او خواخوږۍ باندې مشهور او وپېژندل شوی فرهنګ دی. زمونږ وګړي بې حده په مینې باندې باور لري.
ها وختونه وو چې د مینې څرګونه به له سترګو څخه پیلېده او د ملګرتیاوو وعدې به په لاسونو باندې کلک او تل پاتې کېدل. خو نن سترګې باید د عینکو لاندې پټې او لاسونه د دستکشو په منځ کې پټ پاتې شي. ها وختونه وو چې د ناوې سر په شال باندې پټ ښکارېده خو نن د ناوې مخ په ماسک باندې پټېږي.
ها وختونه وو چې د یو بل لاسونه به مو ټینګ نېول او په عامه وینا «قول به مو ورکوه» چې په دې سره د امنیت احساس کېده، د ها وختونو شورا، مشوره، صله رحمی، لید او کتنه یو اصل وو، اما نن ټول څیزونه سرچپه (برعکس) شوي دي؛ ددغو ټولو اصلونو له منځه تللو څخه یوازې دوه څیزه ترې پاتې دي:

لومړی: ځان ساتنه فرض ده!
دویم: نظافت د ایمان جزء ګڼل کېږي!

دا ورځې مونږ د پاتې ژوند لپاره هڅوي، دغه دوه اصلو ته باید پام وکړئ، لږ زاړه فکرونه باید ها خوا پرېږدو، ګڼې هغه ټول باورونه ښکلي ول، اما دغه ښکلا ګانې شاید زمونږ د ژوند بقا لپاره وګواښېږي!

- د مینې لاس باید خوشې کړو!
- ملګرو سره غېږه باید ونه کړو!
- ماشومان باید ښکل نه کړو!

لرغوني باورونه ښکلي ول، چې باید د ناوې ښکلی جمال وکتل شي؛ اما نن باید د ناوې مخ په څیز باندې پټ اووسي؛ تر هغو چې ناوې ښکلې ژوندۍ پاتې شي او هغه کسان چې ورته ډېر ګران دي هم ژوندي پاتې شي!
مونږ د خپل باورونه نه هېره ۇ، یوازې د څو مودې لپاره ترې مخه ښه کوو، چې ژوندي پاتې شو، مونږ باید ژوندي پاتې شو، چې تر هغو دغه ښکلي باورونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندي پاتې شي، مونږ باید ژوندي پاتې شو، تر هغو چې زمونږ په فرهنګ کې مهربانۍ او مینه تر قیامته پورې د ژوند په سرلیکونو کې د تورو کرښو په رنګ پاتې شي. شاید کرونا جدي ونه ګڼو، اما اړ یو چې د خپل ژوند جدي وګڼو. د کرونا جدي ګڼل ډېر آسانه برېښي؛ د کرونا جدي ګڼلو لپاره باید هغه پخواني باورونه چې زمونږ د مرګ سبب کېږي جدي ونه نیسو. (ژکفر حسیني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناڅاپه بدلون**

نه پوهېږم چې کومه ورځ وه، دقيق تاريخ يې راته مالوم نه ده خو په خبرونو کې مې وليدل چې د مرګونې سرعت په چين هېواد کې ډېر په تېزښت سره وو. هر څه راته معما ښکارېدل او د باور ټنګښت مې لوړ وو چې دا ناروغۍ يوازې په چين کې شتون لري. له هغې ورځې وروسته؛ په يوې بلې ويډيو کې مې وليدل چې د چين وګړي له نامالومې ناروغۍ څخه داسې پر ځمکه رالوېدل لکه مچانو ته چې د تارو مار دوا وشندې. د چين وګړو ځمکه داسې خال خال کړې وه لکه توتان چې پر ځمکه پراته وي. د ويډيو په ليدلو سره په غوږونو مې بېلابېلې خبرې اورېدلې. خواخوږي نه څرګندېدله، همدا مې اورېدل چې خدای دې دوی نور هم تباه کړي. خو ټولو په يوه ژبه داسې ويل چې دا ناروغۍ يوازې په چين کې ده ځکه د چين وګړي ډېر ناپاکه خواړه خوري، حتي په ژوندي موجود باندې هم رحم نه کوي، د دوی په کړنو باندې داسې ګومان کېږي، چې بيخي رحم په زړه کې ونه لري او لکه ظالم غوندې په ژوندي موجود باندې ظلم وکړي. خو زموږ په وطن کې هر څه ښه روان وو، د مينې او محبت څپې په خوځښت باندې وې، د تل په شان ګڼه ګوڼه، بنداروانه، روغبړ او د يووالي لاسونه خواره وو. خلاصه ژوند نه مو خوند اخيسته. ورځې په تېرېدو وې، هر څه ښه روان وو خو يوه ناڅاپه ورځ وه چې د ميډيا او د خلکو له خولې نه مې د کرونا ويروس نوم واورېده او د ميډيا خبرونه يې تاوده ساتلي وو، له چين نه بهر نور هېوادونه هم په لوړه کچه په کرونا ويروس باندې اخته شوي ښکارېدل او د مرګونو شمېر يې څرګند نه وو. په کرونا باندې مړه شوي کسان د فرهنګ په خلاف ايسته غورځول کېدل او همدارنګه د تېرو فرهنګونو په خلاف بنديزونه ولګېدل. بازارونه بند شول، روغبړ بدلون ومونده، ګڼه ګوڼه ورکه شوه، د طبيعت په خلاف سندرغاړي مرغان له قفسه آزاد شول اما آزاده انسانان د قفس ښکار شول. د علم او عقيدو په کمښت ځينو کسانو ويل چې دا ناروغۍ يوازې په کافرانو باندې اغېزه ښندي، ځکه هغوی د اسلام او دين په خلاف ډېر کارونه ترسره کړل او دا د الله تعالی آفت دی چې پر دوی يې نازل کړی. ما هم ددوی خبرې ومنلې او هرې خبرې ته مې ورته سر ښوراوه. اما کرونا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویروس ورته والی، د هغه لېږد او د هغه بندیزونه داسې ښکارېدل لکه د حضرت عمر بن خطاب په وخت کې د طاعون ناروغۍ غوندې؛ په هر صورت د کرونا ویروس خپرېدل داسې بریښېدل لکه د سیند څخه چې د اوبو بند سر وکړي او په کړیو کې ټوله نړۍ اوبه ونیسي. ما هم له ځانه سره ویل چې مسلمانان په دې ناروغۍ باندې نه اخته کېږي او کوم تأثیر پرې نه کوي. خو څو ورځې وروسته چې خبر شوم زمونږ په هېواد کې ډېر شمېر کسان په کرونا ویروس باندې شوي ول او ددې کرغېړنې تر مونږ راورسېدل او بیا مې له ځان سره وویل چې دا د کافرانو کفر او د مسلمانانو بې عملي څرګندوي چې کرونا ویروس د الله تعالی له لوري ځکه نازل شوی چې مونږه متوجې کړي چې د اسلام حد نه وتلي یاستو. د کرونا ناڅاپه بدلون د فرهنګونو بدلون شو او هېڅ څیز د خپل په اصل کې پاتې نه شو. ځکه په خوا مرسته د لاس ورکړه باندې کېده خو اوس مرسته په واټن باندې کېږي او په پای کې به دا څرګنده کړم چې کرونا ټوکې نه لري نو هیله ده؛ کرونا جدي وګڼئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تور لښکر

د نړۍ په تاریخي سوبو باندې وختونو څپې ووهلې او لښکریزې حکمرانۍ ختمې شوې، ها یو وخت وو چې د نړۍ ځواکمنه حکرانۍ بلې حکمرانۍ باندې لښکریز ګوانښ ورکاوه یا یوه حکمرانۍ د بلې حکمرانۍ دې سیوري لاندې چلېده. خو اوس هر هېواد خپلواکه لوړه شمله پورته کړې ده او د حکمرانۍ چلند په نړۍ والو اړیکو باندې ترسره کوي. همداسې فرهنګ هم وبوله چې د وخت په څپو سره د خپل ځینې رنګونه یې له لاسه ورکړي یا هم بیخي له منځه تللي دي. د نړۍ والې تور لښکر خپل بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې پیل کړل او ډېره په کمه موده کې په زیاتو هېوادونو باندې د خپل تور لښکر وځغلوه او بریدونه یې همداسې ګړندي روان وساتل. ددې بریدونو په لړ کې اکثره وګړي اغېزمند شوي ښکاري او اقلیت په کې مړه شوي دي. د تور لښکر په حکمرانۍ باندې ډېرې تبصیرې وشوې چې غریبانو نوموړی لښکر یې ناخود آګاه د طبیعت یوه ناوړه حادثه وګڼله خو اسلام بیا د تور لښکر مرګونی آفت د الله تعالی قهر پر خپلو بنده ګانو څرګندوي چې حکمت یې د بنده ګانو متوجې کول پر خپلو ناوړو کړنو باندې بلل کېږي. د تور لښکرو ځواک ټوله نړۍ یې هک پک کړې ده او د نړۍ ځواکمن هېواد چې پخوا د حکمرانۍ چښې وهلې خو اوس په لوړه کچه باندې د تور لښکر د حکمرانۍ لاندې راڅرخي او د درملنې لپاره یې هېڅ کوم لاسته راوړنې نه لري او د وقایې لارښوونې هم د اسلام له شالیده اخځ او ترېنه ګټه پورته کوي. پخوا ډېرو ځواکمنو لښکرو یو له بل سره سر جنګوه او د خپل تر وسه پورې یې په مقابل لوري مقاومت ښنندي او خلاصه د عاجزو بنده ګانو حکمرانۍ تر یو لنډې مودې پورې وغځېده خو اوس د اللهي لښکریز قهر په برید کې ټوله نړۍ د څو ورځو په لړ کې وغمېده او د دعا په لېه کې اوس ټوله نړۍ خپل ناوړو کړنو باندې متوجې کېږي او سر په ځمکه به زارۍ زارۍ کوي خو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپارښتنې**

د سپارښتنې په څانګه کې به ځینې نورې لارښوونې وسپارل شي.

ـ جاپاني ډاکټرانو د کرونا د مخنوي په هکله ډېرې غوره سپارښتنې کړې دي. چون د کرونا ویروس د ۱۴ ورځو نه واخله تر ۲۷ ورځو پورې خپل علایم نه ځرګندوي نو څنګه به پوهېږو چې آیا مریضان یو او که نه؟ ددې کار لپاره د تایوان ماهرینو یوه ډېره ساده طریقه په کار اچولې ده. هغه طریقه دا ده چې سحر وختي په آزاده فضا کې خپله ساه د لسو ثانیو نه زیاته بنده کړه. که په دې وخت کې دې نه کوم ټوخی وکړ او نه دې سینه تنګه شوه او نه هم درته کوم بل تکلیف پیدا شو نو ددې مانا دا ده چې ستا پاپوسان لا روغ دي او ویروس درته کوم ضرر نه دی رسولی او ډېر امکان لري چې په کرونا لا نه یې اخته شوی. جاپاني ډاکټران بیا وایي: چې هر پنځلس دقیقې وروسته اوبه یا کوم نور مایعات څښئ او دغه شان که چېرې ویروس خولې ته ننوتی هم وي نو اوبه یې پرېمنځي او معدې ته یې ورولېږي چې هلته بیا د معدې د تېزابو نه ژوندی نه شي خلاصېدی.

ـ پلټنې ښیي چې نغدې پیسې یا بانکي نوټونه په بېلابېلو مکروبونو یا ویروسونو ککړ وي، چې د کرونا ویروس عامل هم کېدای شي؛ د نغدو پیسو او نوټونو عمر له څلور تر ۱۵ کالونو پورې دی او په دې موده کې دوی پرېمانه مکروبونه په ځان پورې ور ټولولی شي. احتیاط ځکه اړین دی چې د کرونا ویروس له اوسپنې نېولی تر پلاستیک او د انسانانو پورې نښلي او ناروغي رامنځته کولی شي. نغدې پیسې هم په هغو اړتیاو کې راځي چې وکړي یې په خپل ورځني ژوند کې خورا ډېر کاروي.

ـ د کرونا ویروس د مخنوي لپاره څارملنه لومړیتوب لري او د بې ځایه وتو څخه باید ډډه وشي، که د ضرورت یا خوراکي توکو لپاره له کور څخه بهر کېږئ نو اړین برېښي چې یو کس بهر شي. او همدارنګه ځینې نور ټکي لکه: الکولي مشروبات مه څښئ، په سترو غونډو کې ګډون مه کوئ، هوټلونو، رستورانتونو او سلمانیو ته مه ځئ، له یو ځیز څخه د دویم ځل لپاره ګډه مه پورته کوئ، وېره او ډېره اندېښنه مه کوئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ ورزش وکړئ، قوي خواړه وخورئ، له طبیعت سره په بشپړ ډول اړیکه مه پرېکوئ ( آزادې هوا ته سر ښکاره کړئ، وګرځئ را وګرځئ خو ټولنیز واټن په پام کې ونیسئ)، که پوه شوې چې کرونا ناروغي علایم لرې، له نورو ژر ځان جلا کړئ، ځان د ځارملنې لاندې ونیسئ او ټول مشترک ځیزونه ځانګړې کړئ، په ښار کې هر ځیز باندې لاس مه موښئ او که دا کار در ځخه وشو نو د راستنېدو په محال کور کې لاسونه په صابون پرېمنځئ، هغه ساینټېزر (Sanitizar) چې الکول په کې له ۶۰٪ کم وي مه کاروئ ځکه د جراسیمو وژلو توان نه لري، ویټامین ډي حاصله کړئ چې دفاعي سیستم قوي کوي (لمر ته کېناستل)، د وینې فشار مو ټیټ یا نرمل وساتئ، همېشه له نورو سره په اړیکه کې اوسئ خو د ټولنیزو واټن تل په یاد ولرئ او د کورنۍ له سپین ږیرو خلکو سره لکه نیا او نیکه او والدینو سره ډېر مه ګورئ، ځکه هغوی ددې ناروغۍ پر وړاندې ډېر حساس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګوابنونه**

د کرونا ویروس پېښنو د ۲۰۰ څو هېوادونو څخه ډېر یې ګوابنولي دي، چې غالبآ تر اوسه پورې د اخته شوي کسانو شمېر په ټوله نړۍ کې له دوه نیم میلیونو ډېر منل شوي دي او د مړینو شمېر یې تر لوړې کچې پورې شمېرل کېږي. لکه څرنګه چې څرګنده ده د کرونا ویروس لومړي څرکونه د چین هېواد له ووهان ښار څخه پراختیا موندلې او په ډېر چټکۍ سره د نور هېوادونو وګړي ترې اغېزمند شوي دي. چین هېواد د کرونا ویروس څخه ډېر اغېزمند شوی دی چې په لوړه کچه یې د مرګ خواته پېښې غځولي او د اخته شوي کسانو شمېر یې له ۸۱۷۸۲ څخه لوړ په داګه کېږي. د چین هېواد څخه وروسته؛ بل هېواد چې له کرونا ویروس څخه ډېر متاثره ښکاري هغه ایټالیا هېواد بلل کېږي چې نوموړی هېواد هم له کرونا څخه په لوړه کچه اغېزمند او مړه شوي په کې شمېرل کېږي چې اخته شوي کسانو شمېر یې له ۹۰۵۸۹ لوړ ښکاري. د ایټالیا څخه وروسته په لوړ شمېر هېوادونو کې امریکا هم په ګوته کېږي چې نوموړی هېواد وتوانېده د کرونا ویروس د اخته شوي او مړه شوي شمار لوړ ښکاره کړي. بي بي سي راډیو وایي: چې له بلې خوا د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګان وایي: د کرونا ویروس له امله ددغه هېواد لومړنی سرتېری مړ شو. امریکا کې تر اوسه له دوه لکو ډېر کسان په کرونا اخته شوي او نږدې له لس زرو څخه ډېر امریکایان له دې ویروس نه مړه شوي دي. یوازې نیویارک ښار اته سوه کسانه له دې ناروغۍ څخه مرګونې پېښې لري، چې امریکا د کرونا ویروس مرکز بلل کېږي او ډېر په کې زیانمن شوي دي. بي بي سي راډیو زیاتوي چې د برتانیا دغه وګړي د پرنجېدو پر مهال ویلي وو چې کرونا نېولی دی او نوموړي هېواد یاد کسانو ته تر یو کاله پورې قید ټاکلی دی. د برتانیا د بهرنیو چارو وزیر وایي: په دغه هېواد کې د کرونا ویروس له امله ۱۴۰۸ کسان مړه شوي دي. او همدارنګه اسپانیا هم د کرونا ویروس اخته شوي ډېر کسان ثبت کړي دي، چې پورته یاد شویو هېوادونو سره ایران هم په لوړه کچه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ په افغانستان کې هم د اخته شویو کسانو شمېر ورځ په ورځ لوړېږي او د ټاکل شویو کسانو شمېر په کره توګه نه څرګندېږي، ځکه د ګوتو له شماره ډېر پردېس شوي مسافرین خپل هېواد ته راستانه کېږي او د کرونا ویروس ثبت شوي پېښې له همدې ګبله لوړ ښکاري. د افغانستان د عامې روغتیا وزیر وايي: شونې ده کومه محاسبه چې د روغتیا د نړۍ وال سازمان د وړاندوینې پرمټ شوې تر راتلونکو ۵ میاشتو پورې به د افغانستان ۸۰ سلنه خلک د کرونا پر ویروس اخته شي چې دا شمېر د افغانستان د ۳۲ میلیون نه ۲۵ میلیونه جوړوي. همدارنګه بیا هم د روغتیا نړۍ وال سازمان د محاسبو پر بنسټ وایي: چې په افغانستان کې به ۱۶ میلیونه وګړي په کرونا ویروس اخته شي.

ـ ۷۰۰ زره تنه به روغتون ته اړتیا ولري.

ـ ۲۱۰ زره تنه به جدي درملنې ته اړتیا ولري.

او ۱۱۰ زره تنه به خپل ژوند له لاسه ورکړي.

نو اوس څرګنده شوه چې کرونا ویروس له مونږ سره ټوکې نه لري، که دا پېښې په ټوله نړۍ کې همداسې پرمختګ وکړي نو راتلونکې لپاره ډېر ګواښوونکې پای مومي. د چین هېواد روغتیایي نړۍ وال سازمان اعلان کړي ول چې په کرونا ویروس هغه کسان ژر ځان له لاسه ورکوي چې په سرطان، د زړه ناروغۍ او شکر باندې اخته وي، ځکه یاد شوي کسان دمخه هم خطرناکه ناروغۍ لرونکې وي او ناشونې ده چې کرونا کرغېړن ویروس سره مقاومت وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځلیکونه

۱ـ کرونا پېژندنه تر علایمو پورې، اخځ: ایراني (فارسي) سایټونه، څېړنه: ګوګل.

۲ـ مقاله(څنګه کولی شو خپل مخ ونه موښو..)، اخځ: بي بي سي سایټ.

۳ـ څارملنه، اخځ: بېلابېلې سرچينې

۴ـ مقاله(نړۍ وروسته له کرونا څخه)، لیکوال: یووال نوح هراري، دري ژباړه: احمد نوید غیرتي، پښتو ژباړه، عبدالوهاب مومند.

۵ـ مقاله(کرونا ویروس ژوندی نه ده..)، لیکوالان: ساراکپلان، ویلیم وان او جول آخن بیخ، دري ژباړه: احمد نوید غیرتي، پښتو ژباړه: عبدالوهاب مومند، اخځ: واشنګټن پست.

۶ـ د کرونا حل لارې چارې، اخځ: آزادي راډیو، پژواک او بي بي سي.

۷ـ وبا (طاعون)، منبع: در خانه بمانیم، اخځ: ایراني (فارسي) سایټ.

۸ـ د افغانستان علومو اکاډمۍ.

۹ـ ګواښونه: آزادي راډیو، پژواک او بي بي سي.

۱۰. کتاب: کرونا در دو راهی ماجرای خدائی و انسانی، لیکوال: عبدالحق حبیبی صالحی، پښتو ژباړه: عبدالوهاب مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يادښت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**